# روميانو ته د پولوس رسول ليک

## د کتاب پېژندنه

دا ليک پولوس روم ته د خپل سفر د تيارئ په وخت کې وليکه. هغه غوښتل چې د هغه ځای ايماندارانو سره ليدنه کتنه او د هغوی په منځ کې کار وکړي او وروسته بيا د هغوی په مرسته اسپانيې ته لاړ شي. په روم کې ايماندارانو ته د هغه د ليکنې اصلي مقصد د يهودي او غيريهودي ايماندارانو په منځ کې د ايمان او عمل په يووالي باندې ټينګار کول ؤ. په همدې ډول په دې ليک کې مونږ وينو چې د عيسی مسيح په هکله زېری مونږ ته دا ښکاره کوي چې خدای څنګه انسانان په خپل نظر کې عادل جوړوي او دا د ايمان څخه پيل کيږي او په ايمان باندې پای ته رسيږي. په دې ليک کې د عيسی مسيح په وسيله د خدای د خلاصون د زيري په هکله د پولوس له خوا پوره تشريح شوې ده.

لومړی، دا زېری د خدای عدالت او رښتينولي څرګندوي. ټول خلک يعنې يهوديان او غيريهوديان دواړه دې ته اړتيا لري چې د خدای په نظر کې نېک او عادل وګڼل شي. ځکه چې ټول خلک د ګناه په واک کې دي او يوازې په عيسی مسيح باندې په ايمان راوړلو سره د خدای په نظر کې نېک او عادل ګڼل کېدلی شي.

دوهم، دا زېری يو نوی انسانيت رامنځته کوي، ځکه چې ايمانداران اوس د عيسی مسيح سره په يووالي کې نوی ژوند لري. که څه هم شريعت ښه او رښتينی دی، خو هغه نه شي کولای چې مونږ د ګناه او مرګ د واک څخه وژغوري. د دې په ځای شريعت مونږ ته دا ښايي چې مونږ ګناهکاران يو. يوازې په مسيح باندې په ايمان راوړلو سره کېدلی شي چې مونږ وژغورل شو. ايمانداران د خدای سره په يووالي کې په سوله او سلامتئ کې اوسيږي او



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د خدای د روح په وسیله د ګناه او مرګ د واک نه ازاد شوي دي.

دریم، دا زېری د اسراییلو سره د خدای وعده پوره کوي، خو بیاهم غیریهودیانو ته وړیا خلاصون وړاندې کوي. که څه هم ډېرو یهودیانو عیسی رد کړی ؤ، خو دا رد کېدل د خدای د مقصد یوه برخه ده، ترڅو ټول خلک دا موقعه ولري چې په عیسی مسیح کې د خدای فضل او خلاصون ترلاسه کړي. خو په پای کې پولوس په دې ډاډمن دی چې یهودیان به تل عیسی رد نه کړي.

څلورم، دا زېری کلیسا سره یو موټی او متحد کوي. مسیحیان په مسیح کې په خپل یووالي سره یو بل ته او ټولنې او خپل موجوده حکومتي مقامونو ته خدمت کوي. د روم کلیسا په هغه وخت کې د ډېرو قومونو نه جوړه شوې وه او پولوس ایمانداران دې ته هڅوي چې یو بل ومني، که هغه په خپل ایمان کې کمزوری وي یا قوي وي.

پولوس خپل لیک په کلیسا کې ایماندارانو ته په خپلو سلامونو سره پای ته رسوي. هغه د خدای ستاینه کوي چې د عیسی مسیح په هکله زېری ټولې نړۍ ته ښکاره شوی او رسېدلی دی، ترڅو ټول وکولای شي په هغه باندې ایمان راوړي، د هغه اطاعت وکړي او خلاصون ومومي.

## د موضوعګانو لست

د لیک سریزه: ۱:۱–۱۷
د خدای عدالت او خلاصون ته د انسان اړتیا: ۱:۱۸ – ۳:۲۰
د خدای د خلاصون لاره: ۳:۲۱ – ۴:۲۵
په مسیح کې نوی ژوند: ۵:۱ – ۸:۳۹
د اسراییلو دپاره د خدای نقشه: ۹:۱ – ۱۱:۳۶
مسیحي چلند: ۱۲:۱ – ۱۵:۱۳



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د پولوس له خوا د زيري رسول او وروستني سلامونه: ۱۵:۱۴ – ۱۶:۲۷



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د پولوس له خوا سلامونه

١ ۞١ دا لیک د پولوس له خوا دی چې د عیسی مسیح خدمتګار او د خدای له خوا غوره شوی
رسول او د خدای د زېري د خپرولو دپاره ټاکل شوی دی. ۞٢ خدای د پخوا نه په سپېڅلو لیکنو
کې د خپلو پیغمبرانو په وسیله د دې زېري وعده کړې وه. ۞٣ دا زېری د هغه د زوی په هکله دی
چې په جسماني توګه د داود د نسل نه پیدا شوی دی ۞۴ او د هغه سپېڅلي روح په وسیله چې په
هغه کې ؤ او د مرګ نه د بیا راژوندي کېدلو په وسیله خدای په خپل لوی قدرت سره وښودل چې
هغه د خدای زوی دی. هغه زموږ څښتن عیسی مسیح دی. ۞۵ خدای د هغه په وسیله او د هغه د
نوم په خاطر په ما باندې فضل وکړ چې د هغه رسول شم او ټولو قومونو ته بلنه ورکړم چې ایمان
راوړي او د مسیح اطاعت وکړي. ۞۶ په هغوی کې تاسو رومیان هم شامل یئ چې خدای رابللي
یئ چې د عیسی مسیح اوسئ.

۞٧ زه دا سلامونه تاسو ټولو ته چې په روم کې یئ او په خدای باندې ګران یئ او د دې دپاره
رابلل شوي یئ چې د خدای خلک اوسئ، وایم. زموږ د پلار خدای او څښتن عیسی مسیح فضل او
سلامتي دې وي په تاسو باندې.

## روم ته د تللو دپاره د پولوس ارمان

۞٨ د هرڅه نه مخکې زه د عیسی مسیح په نوم ستاسو ټولو دپاره د خدای شکر کوم، ځکه چې په
ټوله نړۍ کې خلک ستاسو د ایمان په هکله خبرې کوي. ۞٩ هغه خدای چې د زړه له کومې یې
خدمت کوم او د هغه د زوی په هکله زېری خپروم، هغه زما شاهد دی چې زه په دوامداره توګه تل
تاسو په خپلو دعاګانو کې یادوم. ۞١٠ زه تل دا سوال کوم چې که د خدای رضا وي او ماته یوه لاره
برابره شي چې څه موده وروسته تاسو ووینم. ۞١١ ځکه چې دا زما ارمان دی چې تاسو ووینم او د
روحاني برکت څخه مو برخمن کړم، ترڅو ستاسو روح ورباندې قوي شي. ۞١٢ زما مقصد دا دی
چې موږ د یو بل سره د خپل ایمان په وسیله مرسته وکړو ترڅو زموږ د دواړو ایمان قوي شي، یعنې
تاسو زما د ایمان په وسیله او زه ستاسو د ایمان په وسیله.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۳ زما خویندو او ورونو، زه نه غواړم چې تاسو بې‌خبره پاتې شئ چې ما څو څو ځلې نیت کړی دی چې ستاسو خواته درشم، خو تل زما مخنیوی شوی دی. زه غواړم چې ستاسو په منځ کې کار وکړم او روحاني حاصل یې وویېنم لکه څنګه چې مې په نورو غیریهودي قومونو کې ولیدل. ۱۴ زه د ټولو خلکو په وړاندې مسوولیت لرم که هغه پرمختللي خلک دي او که وروسته پاتې خلک، که هغه پوه خلک دي یا ناپوهه. ۱۵ نو له دې امله زه دې ته هیله‌من یم چې تاسو ته هم چې په روم کې یئ زېری واوروم.

## د زېري قدرت

۱۶ زه په دې زېري نه شرمېږم، ځکه چې دا د خلاصون دپاره د خدای قدرت دی، د هر چا دپاره چې ایمان راوړي، لومړی د یهودیانو دپاره او بیا د غیریهودیانو دپاره. ۱۷ ځکه چې دا زېری مونږ ته دا ښکاره کوي چې خدای څنګه انسانان عادلان جوړوي او دا د ایمان څخه پیل کیږي او په ایمان باندې پای ته رسیږي. لکه څنګه چې د خدای په کلام کې لیکل شوي دي: «عادل انسان به د ایمان په وسیله ژوند کوي.»

## د خلکو په ګناهونو باندې د خدای غضب

۱۸ د خدای غضب له اسمانه په هغو ټولو نازلیږي چې بې‌دینه او بد کاره دي او د هغوی دا بد کارونه د خدای په هکله د حقیقت پېژندني مخه نیسي. ۱۹ ځکه چې هغوی د خدای په هکله په حقیقت باندې پوهیږي، له همدې امله خدای په خپله دا هرڅه هغوی ته ښکاره کړي دي. ۲۰ ځکه چې د نړۍ د پیدایښت نه د هغه نه‌لیدونکي صفتونه یعنې د هغه تلپاتې قدرت او الهي ذات په هغو شیانو کې چې هغه پیدا کړي دي، په روښانه توګه لیدل کیږي. نو له دې امله د دې خلکو دپاره هیڅ عذر نشته. ۲۱ سره له دې چې هغوی خدای پېژانده، خو هغه ته یې د خدای په توګه عزت ورنه کړ او نه یې ترې شکرګزاري وکړه، بلکې د هغوی خیالونه باطل شول او پوچ مغزونه یې تیاره شول.
۲۲ هغوی دا دعوه کوي چې پوه دي، خو هغوی کم‌عقل دي. ۲۳ هغوی د نه فناکېدونکي او د جلال نه ډک خدای عبادت کول پرېښی دی او د هغو بتانو عبادت کوي چې د فاني انسانانو، مرغانو، حیواناتو او خزندو ته ورته جوړ شوي دي.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۴ له دې امله خدای هغوی د خپلو زړونو د نفساني غوښتنو پوره کولو ته پرېښودل، ترڅو خپل بدنونه یو د بله سره ناپاک او فاسد کړي. ۲۵ هغوی د خدای په هکله حقیقت په دروغو بدل کړ او د خالق په ځای یې د هغه د مخلوق عبادت او خدمت وکړ یعنې هغه خالق چې تل ترتله د ثنا او صفت لایق دی. امین.

۲۶ نو ځکه خدای هغوی خپل د شرم نه ډکو نفساني غوښتنو ته پرېښودل. حتی د هغوی ښځو عادي جنسي اړیکې پرېښودلې او د هغې په ځای یې په خپل منځ کې سره جنسي اړیکې خپلې کړې. ۲۷ په همدې ډول سړیو هم د ښځو سره عادي جنسي اړیکې پرېښودلې او د خپل همجنس سره یې د جنسي اړیکو سختې غوښتنې پیدا کړلې. یو سړي به د بل سړي سره له شرمه ډک کارونه کول او په نتیجه کې هغوی په خپلو ځانونو باندې هغه سزا راوستله چې د خپلو بې‌لاریو له امله د هغې لایق وو.

۲۸ څرنګه چې هغوی د دې نه انکار وکړ چې حتی د خدای په هکله فکر وکړي، نو هغه هم هغوی خپلو فاسدو خیالونو ته پرېښودل، ترڅو داسې کارونه وکړي چې باید ونه شي. ۲۹ هغوی د هر ډول بدو کارونو، بدیو، حرص، کینې، بخیلتوب، قتل، جګړو، غولونې او بدو نیتونو څخه ډک دي. هغوی د یو بل پسې اوازې خپروي ۳۰ او خبرې کوي، د خدای څخه کرکه کوي او د یو بل سپکاوی کوي. هغوی مغرور او لافې وهونکي خلک دي. هغوی د بدیو دپاره نوې لارې چارې جوړوي او د خپل مور او پلار د امر نه سرغړونه کوي. ۳۱ هغوی ناپوهه، بې‌وفا، بې‌مینې او بې‌رحمه خلک دي. ۳۲ هغوی د خدای د دې عادلانه حکم څخه ښه خبر دي چې څوک چې داسې کارونه کوي هغوی د مرګ لایق دي، خو هغوی نه یوازې دا چې خپله داسې کارونه کوي، بلکې نور هم دې ته هڅوي چې داسې کارونه وکړي.

## خدای د ټولو خلکو په هکله قضاوت کوي

**۲** ۱ نو له دې امله ای انسانه، ته څوک یې چې د نورو په هکله قضاوت کوې؟ ته چې هرڅوک یې، تا سره هیڅ عذر نشته، ځکه کله چې ته د نورو په هکله قضاوت کوې او بیا په خپله هماغه کار



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کوي چي هغوی یې کوي، نو په خپله خپل ځان ملامتوي. ۲ مونږ پوهېږو کله چي خدای د هغو خلکو په هکله چي داسي کارونه کوي، قضاوت کوي، نو هغه په حقه دی. ۳ خو ای انسانه، ته چي د نورو په هکله قضاوت کوې او په خپله هماغه کارونه کوې، ایا ګومان کوې چي د خدای د قضاوت نه به وتښتې؟ ۴ یا دا چي د خدای ډېرې زیاتې مهربانۍ، زغم او صبر ته په سپکه سترګه ګورې؟ ایا په دې نه پوهېږې چي د خدای د مهربانۍ مقصد دا دی چي هغه تاته وښایي چي ته توبه وباسې؟ ۵ خو دا چي ته سرزوری یې او د خپلو ګناهونو نه لاس نه اخلې، نو ته خپله سزا په هغه ورځ چي کله د خدای غضب او عادلانه قضاوت ښکاره شي، نوره هم زیاتوې.

۶ خدای به هرچا ته د هغه د عملونو له مخي چي کړي یې دي، بدل ورکړي. ۷ کوم خلک چي په صبر او زغم سره ښه کارونه کوي او د جلال، عزت او نه‌فناکېدونکي ژوند په لټه کې دي، نو هغوی ته به خدای تلپاتې ژوندون ورکړي. ۸ خو کوم خلک چي ځان خوښوونکي دي، حقیقت نه مني او بدو کارونو پسې ګرځي، نو په هغوی باندې به خدای خپل قهر او غضب نازل کړي. ۹ د هغو خلکو دپاره به چي بد کارونه کوي، مصیبت او کړاوونه وي، لومړی د یهودیانو دپاره او بیا د غیریهودیانو دپاره. ۱۰ خو خدای به هغو ټولو خلکو ته چي ښه کارونه کوي، جلال، عزت او سوله ورکړي، لومړی یهودیانو ته او بیا غیریهودیانو ته. ۱۱ ځکه چي خدای د هېچا طرفداري نه کوي.

۱۲ هغه ټول خلک چي د موسی شریعت نه لري او ګناه کوي، نو هغوی به بې له شریعته له منځه ځي او د یهودیانو سره چي شریعت شته او ګناه کوي، نو د هغوی سره به د شریعت له مخي قضاوت کیږي. ۱۳ ځکه چي یوازې د شریعت په اورېدلو سره هېڅوک د خدای په نظر کې عادل نه ګڼل کیږي، بلکې د شریعت په حکمونو باندې په عمل کولو سره عادل ګڼل کیږي. ۱۴ کله چي غیریهودیان چي شریعت نه لري په طبیعي توګه د شریعت په حکمونو باندې عمل کوي، نو د هغوی شریعت په خپله هغوی دي، که څه هم هغوی د موسی شریعت نه لري. ۱۵ د هغوی عملونه دا ښکاره کوي چي د شریعت حکمونه د هغوی په زړونو کې لیکل شوي دي. د هغوی وجدان د دې شاهدي ورکوي، ځکه چي د هغوی خیالونه یا هغوی ملامتوي او یا د هغوی څخه دفاع کوي. ۱۶ نو د هغه زېري له مخي چي زه یې ورکوم، دا کار به په هغه ورځ وشي کله چي خدای د عیسی مسیح په وسیله د ټولو انسانانو د پټو خیالونو په هکله قضاوت کوي.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۷ خو ته خپل ځان ته يهودي وايې او په شريعت باندې ولاړ يې او د خدای سره په اړيکو لرلو
باندې وياړ کوې. ۱۸ ته د خدای په ارادې باندې پوهېږې او د شريعت څخه دې دا زده کړې دي
چې هرڅه چې ښه دي غوره کړې، ۱۹ او په دې يقين لرې چې د ړندو دپاره لارښوونکی يې او د
هغو خلکو دپاره رڼا يې کوم چې په تياره کې دي، ۲۰ د ناپوهه خلکو استاذ او د ماشومانو
ښوونکی يې. ته د شريعت خاوند يې چې په هغه کې په پوره توګه پوهه او حقيقت شته. ۲۱ نو بيا
ته چې نورو ته تعليم ورکوې، ولې خپل ځان ته تعليم نه ورکوې؟ ته نورو ته وعظ کوې چې غلا مه
کوئ، ايا ته په خپله غلا نه کوې؟ ۲۲ ته وايې چې زنا مه کوئ، ايا ته په خپله زنا نه کوې؟ ته چې
د بتانو څخه بد وړې، ايا ته بتخانې نه لوټ کوې؟ ۲۳ ته چې په شريعت وياړ کوې، ايا ته د
شريعت په ماتولو سره د خدای بې‌عزتي نه کوې؟ ۲۴ لکه څنګه چې د خدای په کلام کې ليکل
شوي دي: «ستاسو يهوديانو له امله غيريهوديان د خدای په هکله سپکې خبرې کوي.»

۲۵ که چېرې ته په شريعت باندې عمل وکړې، نو سنت کېدل ارزښت لري، خو که ته د شريعت نه
سرغړونه کوې، نو هغه به داسې وي لکه چې ته بالکل سنت شوی نه يې. ۲۶ نو که چېرې يو
غيريهودي چې سنت شوی نه دی او د شريعت په حکمونو باندې عمل کوي، ايا خدای به هغه سنت
شوی ونه ګڼي؟ ۲۷ او يو څوک چې په جسماني توګه سنت شوی نه دی خو د خدای په حکمونو
باندې عمل کوي، نو هغه به تا خپله په هغه شريعت باندې چې درسره موجود دی او سنت شوی هم
يې، خو په شريعت باندې عمل نه کوې، ملامته کړي. ۲۸ ځکه چې رښتينی يهودي هغه نه دی چې
يوازې په ظاهره يهودي وي او که چېرې څوک سنت شوی وي، نو معنی يې دا نه ده چې هغه
رښتينی يهودي دی. ۲۹ بلکې رښتينی يهودي هغه دی چې په باطن کې يهودي وي، او رښتينی
سنت کېدل د زړه سنت کېدل دي. دا د خدای د روح کار دی، نه د ليکل شوي شريعت کار. د داسې
کس صفت د خدای له خوا کېږي، نه د انسان له خوا.

۳ ۱ نو بيا يهوديان په غيريهوديانو باندې څه غوره والی لري؟ يا سنت کېدل څه ارزښت لري؟
۲ په هر لحاظ ډېر ارزښت لري! د هرڅه نه لومړی دا چې خدای خپل کلام يهوديانو ته وسپاره.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳ دا رښتیا ده چې په هغوی کې ځینې یې وفادار نه وو. خو په دې خاطر چې هغوی وفادار نه وو، نو ایا د دې معنی دا ده چې خدای به وفادار نه وي؟ ۴ هېڅکله نه! حتی که ټول انسانان دروغجن وي، خو خدای به تل رښتینی وي. لکه څنګه چې د خدای په هکله لیکل شوي دي:

کله چې ته خبرې کوې، نو ټول به په یقین سره پوه شي چې ته رښتیا وایې او په محکمه کې باید خپله دعوه وګټې.

۵-۶ خو که چېرې زمونږ بدکاري د دې سبب کیږي چې د خدای عدالت نور هم ښکاره شي، نو په دې کې مونږ څه ویلی شو؟ ایا مونږ ویلی شو کله چې خدای مونږ ته سزا راکوي، نو بې‌انصافي کوي؟ هېڅکله نه! دا یوازې انساني نظر دی. که چېرې خدای عادل نه وي، نو هغه څنګه کولای شي چې د نړی په هکله قضاوت وکړي؟

۷ خو که څوک وایي چې که چېرې زما دروغ د دې سبب شي چې د خدای رښتینولي او جلال ښکاره شي، نو بیاهم ولې زه د یو ګناهکار په توګه ملامته کیږم؟ ۸ ځینې خلک په مونږ باندې تور لګوي چې مونږ داسې وایو: «راځئ چې بدي وکړو چې نېکي ورڅخه پیدا شي؟» خو هغوی د سزا لایق دي.

## هېڅوک نېک نه دی

۹ نو بیا څنګه؟ ایا مونږ یهودیان د خدای په نظر کې د غیریهودیانو څخه ښه یو؟ نه، بالکل نه، ځکه چې مونږ مخکې دې ته اشاره وکړه چې یهودیان او غیریهودیان دواړه یوشان د ګناه په واک کې دي. ۱۰ لکه څنګه چې د خدای په کلام کې لیکل شوي دي:

هېڅوک عادل نه دی، حتی یو هم نشته. ۱۱ هېڅ داسې څوک نشته چې په دې پوه شي چې رښتیا څه دي. هېڅوک نشته چې خدای ته رجوع وکړي. ۱۲ ټولو د خدای نه مخ اړولی دی او ټول فاسد شوي دي. داسې هېڅوک نشته چې نېک کار وکړي، یو هم نشته. ۱۳ ستوني یې لکه د قبر په شان خلاص دي. د خپلو ژبو نه د فریب دپاره کار اخلي او خبرې یې لکه د مار د زهرو په شان له



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خولې نه راوځي. ۱۴ خولې يې له لعنتونو او ترخو خبرو ډکې دي. ۱۵ د دوی پښې په منډه دي
چې وينه تويه کړي. ۱۶ هغوی چې هرچېرته ځي، هلته ورانی او بدبختي پيدا کوي. ۱۷ هغوی د
سولې او سلامتی لاره نه ده پېژندلې. ۱۸ هغوی له خدايه هېڅ نه وېرېږي.

۱۹ نو بيا مونږ پوهېږو چې هرڅه چې شريعت وايي هغه په هغه چا باندې عملي کېږي چې د
شريعت پيروان وي، ترڅو د ټولو خولې بندې شي او ټوله نړی خپل ځان د خدای په وړاندې
محکومه وګڼي. ۲۰ ځکه چې هېڅوک به هم د شريعت په حکمونو باندې په عمل کولو سره د
خدای په نظر کې عادل ونه ګڼل شي. د شريعت کار دا دی چې مونږ ته خپله ګناه راوپېژني.

## د ايمان په وسيله عادل کېدل

۲۱ اوس خدای مونږ ته هغه لاره ښکاره کړې ده چې د هغې په وسيله بې له دې چې په حکمونو
باندې عمل وکړو، د هغه په نظر کې عادل شو لکه څنګه چې شريعت او پيغمبرانو د هغې شاهدي
ورکړې ده. ۲۲ دا عدالت په عيسی مسيح باندې د ايمان درلودلو له لارې ترلاسه کېږي. خدای ټول
په عيسی مسيح باندې په ايمان راوړلو سره عادل ګڼي، ځکه چې د يهوديانو او غيريهوديانو ترمنځ
هېڅ فرق نشته. ۲۳ ځکه چې ټولو ګناه کړې ده او د خدای د جلال نه بې‌برخې دي. ۲۴ خو ټول
د خدای په وړيا فضل سره د عيسی مسيح په وسيله چې هغوی يې د خپلو ګناهونو نه خلاص کړي
دي، عادل ګڼل کېږي. ۲۵ خدای مسيح د دې دپاره وټاکه، ترڅو خپله وينه د خلکو د ګناهونو د
بخښنې په خاطر چې په هغه باندې په ايمان راوړلو سره ترلاسه کېږي، يوه وسيله شي. خدای دا کار
د دې دپاره وکړ چې خپل عدالت ښکاره کړي، ځکه چې خدای صابر دی او په تېرو ګناهونو باندې
سترګې پټوي. ۲۶ دا د دې دپاره ؤ چې په دې زمانه کې خپل عدالت ښکاره کړي او دا ثابته کړي
چې هغه په خپله عادل دی او هغه څوک عادل جوړوي چې په عيسی مسيح باندې ايمان راوړي.

۲۷ نو بيا مونږ په څه باندې وياړ وکړو؟ په هېڅ شي باندې نه. ايا په دې دليل چې په شريعت
باندې عمل کوو؟ نه، بلکې د ايمان په وسيله. ۲۸ ځکه مونږ پوهېږو چې د ايمان په وسيله عادل
ګڼل کېږو، نه په شريعت باندې په عمل کولو سره. ۲۹ ايا خدای يوازې د يهوديانو خدای دی؟ ايا
هغه د غيريهوديانو خدای هم نه دی؟ بې له شکه چې دی. ۳۰ خدای يو دی او هغه خلک يوازې د



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ایمان په وسیله عادل جوړوي، که هغه یهودیان دي یا غیریهودیان. ۳۱ ایا د دې معنی دا ده چې مونږ په دې ایمان باندې شریعت ایسته غورځوو؟ نه، هېڅکله نه، بلکې نور هم په هغه باندې ټینګ ودرېږو.

## د ابراهیم د ایمان مثال

**۴** ۱ نو اوس مونږ د خپل بنیاد اېښودونکي نیکه ابراهیم د تجربې په هکله څه ووایو؟ ۲ که چېرې ابراهیم په خپلو نېکو عملونو د خدای په نظر کې عادل ګڼل شوی ؤ، نو د هغه سره یو دلیل ؤ چې ویاړ یې وربانديې کړی وای، خو د خدای په مخکې نه. ۳ ځکه چې د خدای په کلام کې لیکل شوي دي: «ابراهیم په خدای باندې ایمان راوړ او د هغه ایمان له امله خدای هغه عادل وګاڼه.»
۴ څوک چې کار کوي نو مزدوري یې اخلي، خو دا مزدوري په سوغات کې نه حسابیږي، بلکې د هغه حق دی. ۵ خو څوک چې په عمل تکیه نه کوي او په هغه خدای باندې ایمان راوړي چې ګناه کار خلک عادل جوړوي، نو د هغه ایمان په عدالت کې حسابیږي. ۶ همدارنګه داود د هغه نېکمرغه سړي په هکله چې خدای یې له دې چې د هغه عملونه په پام کې ونیسي، هغه عادل ګڼي، داسې وايي:

۷ بختور دی هغه څوک چې سرکښي یې بخښل شوې

هغه څوک چې په ګناهونو یې اچول شوې پرده

۸ بختور دی هغه څوک چې یې څښتن نه ګڼي مجرم

۹ ایا دا خوشبختي یوازې د هغو خلکو دپاره ده چې سنت شوي دي یا د ناسنتو دپاره هم ده؟ ځکه چې مونږ ته ویل شوي دي چې ابراهیم د خپل ایمان له امله عادل وګڼل شو. ۱۰ خو دا کار کله وشو؟ ایا د سنت کېدلو نه مخکې وشو یا وروسته له سنت کېدلو؟ په یقین سره چې د سنت کېدلو نه مخکې وشو، وروسته نه. ۱۱ د هغه سنت کېدل یوه نښه وه چې دا ثابته کړي چې مخکې له دې چې هغه سنت شي، خدای هغه د خپل ایمان په وسیله عادل وګاڼه. نو ابراهیم د هغو ټولو خلکو پلار



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دی چې په خدای باندې ايمان راوړي او عادل ګڼل کيږي، که هغوی سنت شوي هم نه وي. ١٢
همدارنګه هغه د سنت شويو خلکو پلار هم دی، يوازې په دې خاطر نه چې هغوی سنت شوي دي، بلکې دا چې هغوی د هغه ايمان د مثال څخه پيروي کوي چې زمونږ نيکه ابراهيم د سنت کېدلو نه مخکې درلود.

## د خدای وعده د هغو ټولو دپاره چې ايمان راوړي

١٣ خدای د ابراهيم او د هغه د اولادې سره وعده وکړه چې هغوی به د ټولې نړۍ وارثان وي. دا وعده په دې خاطر نه وه چې ابراهيم په شريعت باندې عمل وکړ، بلکې د دې په خاطر وه چې هغه ايمان راوړ او د ايمان په وسيله عادل وګڼل شو. ١٤ ځکه که چېرې د خدای وعدې هغو خلکو ته ورکړل شي چې د شريعت پيروي کوي، نو بيا ايمان هېڅ معنی نه لري او د خدای وعده بې‌ارزښته ده.
١٥ ځکه چې شريعت د خدای د غضب سبب کيږي، خو چېرته چې شريعت نشته، نو هلته د شريعت ماتول هم نشته.

١٦ نو دا وعده په ايمان باندې ولاړه ده، ترڅو دا وعده د فضل په وسيله وي او د ابراهيم د ټولې اولادې دپاره اعتبار ولري، يوازې د هغو خلکو دپاره نه چې په شريعت باندې عمل کوي، بلکې د هغو خلکو دپاره هم چې د ابراهيم په شان ايمان لري، ځکه چې ابراهيم زمونږ د ټولو نيکه دی. ١٧
لکه څنګه چې د خدای په کلام کې ليکل شوي دي: «ته مې د ډېرو قومونو پلار کړی يې.» نو ابراهيم د خدای په نظر کې زمونږ پلار دی چې هغه وربانديې ايمان درلود، يعنې هغه خدای چې مړي راژوندي کوي او د نشت څخه شته جوړوي.

١٨ ابراهيم ايمان راوړ او باور يې وکړ او حتی په نااميدۍ کې يې هيله وساتله، نو له دې امله هغه د ډېرو قومونو پلار شو. لکه څنګه چې خدای هغه ته ويلي وو: «ستا نسل به بې‌شمېره زيات شي.»
١٩ کله چې ابراهيم شاوخوا سل کلن ؤ، که څه هم هغه پوه شو چې بدن يې نژدې مړ دی او ښځه يې ساره هم نه شي کولای اولاد راوړي، خو ايمان يې کمزوری نه شو. ٢٠ ابراهيم هېڅکله هم د خدای په وعده باندې شک ونه کړ، بلکې ايمان يې هغه ته قوت ورکړاوه او د خدای ثنا يې ويله. ٢١
ځکه چې هغه پوره يقين درلود چې خدای په دې قادر دی چې خپله وعده پوره کړي. ٢٢ نو له



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دې امله ابراهیم د ایمان په وسیله عادل وګڼل شو. ﴿۲۳﴾ دا خبره چې «هغه عادل وګڼل شو» یوازې د هغه په خاطر ونه لیکل شوه، ﴿۲۴﴾ بلکې زمونږ دپاره هم ولیکل شوه چې عادل وګڼل شو او په هغه باندې ایمان ولرو چې زمونږ څښتن عیسی یې د مړو نه راژوندی کړی دی. ﴿۲۵﴾ هغه زمونږ د سرغړونو په خاطر مرګ ته وسپارل شو او بېرته راژوندی شو، ترڅو مونږ د خدای په حضور کې عادل وګڼل شو.

## د خلاصون نتیجه

**۵** ﴿۱﴾ له دې امله چې مونږ د ایمان په وسیله عادل ګڼل شوي یو، نو زمونږ د څښتن عیسی مسیح په وسیله د خدای سره زمونږ روغه جوړه وشوه. ﴿۲﴾ د هغه په وسیله او د خپل ایمان له لارې د خدای په دې تجربه شوي فضل هغه ځای مونږ ته راکړل شو چې اوس په کې اوسېږو او په دې هیله خوشحالي کوو چې د خدای په جلال کې به شریک شو. ﴿۳﴾ یوازې په دې شیانو نه، بلکې په خپلو کړاوونو او تکلیفونو باندې هم خوشحالي کوو، ځکه مونږ پوهېږو چې تکلیفونه صبر او زغم راپیدا کوي. ﴿۴﴾ صبر او زغم د دې سبب ګرځي چې مونږ خدای ته د منلو وړ وګرځو او دا کار هیله راپیدا کوي. ﴿۵﴾ دا هیله مونږ هېڅکله شرمېدلو ته نه پرېږدي، ځکه چې د خدای مینه د روح القدس په وسیله چې مونږ ته راکړل شوی ده، زمونږ په زړونو کې اچول شوې ده.

﴿۶﴾ کله چې هغه وخت مونږ لا بېوسه وو، نو مسیح په ټاکل شوي وخت کې د ګناهکارانو دپاره مړ شو. ﴿۷﴾ داسې یو څوک به ډېر کم پیدا شي چې حتی د یو عادل سړي دپاره خپل ځان له لاسه ورکړي. خو کېدای شي چې یو څوک جرات وکړي چې د یو مهربانه سړي دپاره خپل ځان قربان کړي. ﴿۸﴾ خو خدای خپله مینه مونږ ته داسې وښودله چې هغه وخت چې مونږ لا ګناهکاران وو، مسیح زمونږ دپاره مړ شو. ﴿۹﴾ اوس چې مونږ د هغه د وینې په وسیله عادل ګڼل شوي یو، نو مونږ به څومره نور هم د هغه په وسیله د خدای د غضب څخه وژغورل شو. ﴿۱۰﴾ ځکه کله چې مونږ د خدای دښمنان وو، نو د هغه د زوی د مرګ په وسیله ورسره پخلا شو، نو اوس چې مونږ سره پخلا شوي یو، نو څومره زیات به د مسیح ژوند زمونږ د خلاصون سبب وګرځي. ﴿۱۱﴾ خو یوازې دا نه، بلکې مونږ د خپل څښتن عیسی مسیح په وسیله چې اوس یې مونږ د خدای سره پخلا کړي یو، په



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خدای کې خوشحالي کوو.

## د ادم ګناه او د مسیح فضل

۱۲ لکه څنګه چې ګناه د یو انسان په وسیله نړۍ ته راغله او د ګناه په وسیله مرګ راغی، نو په دې ډول مرګ ټولو انسانانو ته راغی، ځکه چې ټولو ګناه وکړه. ۱۳ ګناه د شریعت نه مخکې په دنیا کې موجوده وه، خو چېرته چې شریعت نه وي، نو څوک ګناهکار نه ګڼل کیږي. ۱۴ خو سره له دې مرګ په هغو خلکو باندې هم چې د ادم د زمانې نه د موسی تر زمانې پورې یې ژوند کړی دی، حتی په هغو خلکو باندې هم چې د ادم په شان یې د خدای د حکم نه سرغړونه نه وه کړې، حاکم ؤ. ادم د هغه چا یو مثال او نښه ؤ چې راتلونکی ؤ. ۱۵ خو د ادم د سرغړونې او د خدای د وړیا فضل تر منځ زیات فرق دی. ځکه د یو انسان یعنې د ادم د سرغړونې له امله ډېر خلک مړه شول، خو د خدای فضل او بخښنه څومره لویه ده او د هغه وړیا نعمت چې د یو بل انسان یعنې عیسی مسیح د فضل په وسیله ډېرو ته ورکړ شو. ۱۶ د ادم د ګناه د نتیجې او د خدای د نعمت تر منځ زیات فرق دی. ځکه چې د هغې ګناه په هکله قضاوت د محکوم کېدلو سبب کیږي، خو د خدای نعمت زمونږ دپاره دا امکان برابروي چې د هغه دپاره عادل وګڼل شو، که څه هم مونږ ډېر ځلې سرغړونې کړې دي. ۱۷ که چېرې د یو انسان د سرغړونې له امله مرګ په انسان باندې حاکم شو، نو د هغه کار نتیجه به څومره لویه وي چې هغه بل انسان یعنې عیسی مسیح سرته ورساوه. هغو ټولو خلکو چې د عیسی پرېمانه فضل او د عدالت وړیا نعمت یې ترلاسه کړ، د مسیح په وسیله به په ژوند کې لکه د پاچاهانو په شان حکومت کوي.

۱۸ نو لکه څنګه چې یوه سرغړونه د ټولو خلکو د محکوم کېدلو سبب شوې ده، نو په همدې ډول یو نیک عمل ټول عادلان ګڼلي دي او ژوند یې ورکړی دی. ۱۹ لکه څنګه چې د یو سړي د نافرمانی له امله ډېر خلک ګناهکار شول، نو په همدې ډول به ډېر خلک د یو سړي د فرمانبرداری په وسیله عادلان وګڼل شي.

۲۰ شریعت د دې دپاره ورکړل شو، ترڅو ټول خلک ووینې چې هغوی څومره ګناهکاران وو. خو څنګه چې د خلکو ګناهونه زیاتیږي، نو د خدای حیرانوونکی فضل نور هم زیاتیږي. ۲۱ نو لکه



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

څنګه چې ګناه د مرګ په وسیله حکومت وکړ، نو په همدې ډول د خدای فضل هم باید د عدالت په وسیله حکومت وکړي او د خپل څښتن عیسی مسیح په وسیله تلپاتې ژوندون ورکړي.

## د ګناه په وړاندې مړه یو، خو د مسیح سره ژوندي یو

**۶** (۱) نو بیا مونږ څه ووایو؟ ایا باید خپل ژوند ته په ګناهونو کې دوام ورکړو، ترڅو د خدای فضل زیات شي؟ (۲) هیڅکله نه! مونږ چې د ګناه په وړاندې مړه یو، نو بیا څنګه کولای شو چې په ګناه کې خپل ژوند ته دوام ورکړو؟ (۳) ایا تاسو نه پوهېږئ کله چې مونږ ټولو په عیسی مسیح کې د تعمید غسل واخیست، نو د هغه په مرګ کې ورسره شریک شولو. (۴) نو مونږ د خپل تعمید په وسیله د هغه سره ښخ شولو او ورسره مړه شولو. لکه څنګه چې مسیح د پلار په جلال کې د مړو نه راژوندی شو، نو مونږ به هم نوی ژوند ولرو.

(۵) څکه که چېرې مونږ د مسیح په مرګ کې ورسره شریک شولو، نو په هماغه ډول به د هغه په بیا راژوندي کېدلو کې هم د هغه سره شریک شو. (۶) مونږ پوهېږو چې زمونږ زوړ فطرت د مسیح سره په صلیب کې مړ شو، ترڅو ګناه زمونږ په ژوند باندې خپل قدرت له لاسه ورکړي او مونږ نور د ګناه غلامان ونه اوسو. (۷) څکه څوک چې مړ شي، نو هغه د ګناه نه خلاص شوی دی. (۸) که چېرې مونږ د مسیح سره مړه شوي یو، نو په دې ایمان لرو چې د هغه سره به ژوند هم کوو. (۹) څکه مونږ پوهېږو چې مسیح د مړو نه راژوندی شوی دی او بیا به هیڅکله مړ نه شي، یعنې مرګ نور په هغه باندې واک او اختیار نه لري. (۱۰) کله چې مسیح مړ شو، نو هغه یوځل او د تل دپاره د ګناهونو په خاطر مړ شو. خو اوس چې هغه ژوندی دی، نو هغه یوازې د خدای دپاره ژوند کوي. (۱۱) نو تاسو هم خپل ځانونه د ګناه په وړاندې مړه وګڼئ، خو د خدای په وړاندې د عیسی مسیح سره په یووالي کې خپل ځانونه ژوندي وګڼئ.

(۱۲) نو مه پرېږدئ چې ګناه نور ستاسو په فاني بدن باندې حکومت وکړي او تاسو د خپلو نفساني غوښتنو تابع کړي. (۱۳) د خپل بدن یو غړی هم د یوې وسیلې په توګه د بدی په اختیار کې مه ورکوئ، بلکې خپل ځانونه خدای ته وسپارئ او د هغو کسانو په شان چې د مرګ نه راژوندي شوي



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دي، د خپل بدن غړي خدای ته د عدالت او ربښتينولی دپاره د يوې وسيلې په توګه وړاندې کړئ.
۱۴ ځکه چې ګناه به نور په تاسو باندې حاکمه نه وي، له دې امله چې تاسو نور د شريعت تابع نه يئ، بلکې د خدای د فضل لاندې يئ.

## د عدالت غلامان

۱۵ نو بيا څه ووايو؟ ايا مونږ بايد ګناه وکړو، ځکه چې د شريعت تابع نه يو، بلکې د خدای د فضل لاندې يو؟ نه، هېڅکله نه! ۱۶ ايا تاسو نه پوهېږئ چې که چېرې تاسو خپل ځانونه د غلامانو په توګه د کوم چا په اختيار کې ورکړئ او د هغه تابع اوسئ، نو په حقيقت کې تاسو د هغه چا غلامان يئ چې اطاعت يې کوئ، که هغه د ګناه غلامي وي چې پای يې مرګ دی او يا د خدای تابعداري وي چې نتيجه يې عدالت دی. ۱۷ نو د خدای شکر دی چې تاسو يو وخت د ګناه غلامان وئ، خو اوس تاسو د زړه له اخلاصه د هغه تعليم اطاعت کوئ چې تاسو ته درکړل شوی دی. ۱۸ اوس تاسو د ګناه نه ازاد او د عدالت غلامان شوي يئ. ۱۹ زه ستاسو د انساني فطرت د کمزورۍ له امله ساده خبرې کوم. لکه څنګه چې تاسو يو وخت خپل ځانونه د ناپاکۍ او د ټولو بدو کارونو غلامان کړي وو، نو اوس خپل د بدن ټول غړي د عدالت غلامان کړئ چې پاک او سپېڅلي شئ.

۲۰ کله چې تاسو د ګناه غلامان وئ، نو مجبوره نه وئ چې عدالت او ربښتينولي وکړئ. ۲۱ د هغو کارونو په کولو سره چې اوس ورباندې شرمېږئ تاسو کومه ګټه ترلاسه کړه؟ ځکه چې د هغو کارونو پای مرګ دی. ۲۲ خو اوس تاسو د ګناه نه ازاد شوي يئ او د خدای غلامان يئ. د دې ګټه دا ده چې تاسو پاک او سپېڅلي شوي يئ او د دې نتيجه تلپاتې ژوندون دی. ۲۳ ځکه چې د ګناه نتيجه مرګ دی، خو د خدای نعمت زمونږ په څښتن عيسی مسيح کې تلپاتې ژوندون دی.

## زمونږ اړيکې د شريعت سره

۷ ۱ ای خويندو او ورونو! تاسو چې د شريعت څخه خبر يئ، ايا تاسو نه پوهېږئ چې شريعت په هغو ټولو کسانو باندې عملي کيږي چې ترڅو پورې هغوی ژوندي وي؟ ۲ د مثال په ډول د شريعت له مخې يوه ښځه تر هغه وخته پورې د خپل مېړه سره تړاو لري چې مېړه يې ژوندی وي،



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خو که چېرې مېړه يې مړ شي، نو هغه د واده د قانون د قيد نه ازاده ده. ۳ نو له دې امله که چېرې هغه ښځه په داسې حال کې چې مېړه يې ژوندی وي او هغه د بل چا سره اړيکې ولري، نو هغه زناکاره ګڼل کېږي. خو که چېرې د هغې مېړه مړ شي، نو هغه د شريعت له مخې ازاده ده او که چېرې هغه د بل چا سره واده وکړي، نو زناکاره نه ده. ۴ ای خويندو او ورونو! نو په همدې ډول تاسو هم چې د مسيح د بدن غړي يئ، د شريعت په وړاندې مړه شوي يئ او اوس د هغه چا سره تړاو لرئ چې د مړو نه بيا راژوندی شوی دی، ترڅو وکولای شئ چې خدای ته په خدمت کولو کې ګټور تمام شئ. ۵ کله چې مونږ د خپل انساني فطرت له مخې ژوند کاوه، نو شريعت مونږ نفساني غوښتنو ته هڅولو او په مونږ کې يې کار کاوه چې نتيجه يې مرګ دی. ۶ اوس مونږ د شريعت نه ازاد شوي يو او د هغه څه په وړاندې چې مونږ يې بنديان ساتلو، مړه شوي يو. نو مونږ نور په هغې زړې طريقې نه چې په شريعت کې ليکل شوي دي، بلکې په نوې طريقې د روح القدس په مرسته د خدای خدمت کوو.

## شريعت او ګناه

۷ نو مونږ بيا څه ووايو؟ ايا په خپله شريعت ګناه ده؟ هېڅکله نه! که چېرې شريعت نه وای، نو ما به ګناه نه وای پېژندلې. که چېرې شريعت نه وای ويلې: «د نورو څخه د کوم شي تمه مه کوه،» نو زه به هېڅکله په دې نه وای پوه شوی چې تمه څه شی دی. ۸ خو ګناه د همدې حکم په وسيله دا موقعه ترلاسه کړه چې په ما کې هر ډول تمه کول پيدا کړي. ځکه پرته له شريعت نه ګناه مړه ده. ۹ يو وخت زه بې له شريعته ژوندی وم، خو کله چې د شريعت حکم راغی، نو ګناه ژوندی شوه او زه مړ شوم. ۱۰ هماغه حکم چې بايد ماته يې ژوند راکړی وای، ماته يې مرګ راوړ. ۱۱ ځکه د دې حکم په وسيله ګناه ته موقعه په لاس ورغله او زه يې وغولولم او مړ يې کړم.

۱۲ نو بيا شريعت سپېڅلی دی او حکمونه يې هم سپېڅلي، عادلانه او ښه دي. ۱۳ خو ايا يو ښه شی زما د مرګ سبب ګرځي؟ هېڅکله نه! بلکې دا ګناه وه چې د هغه ښه شي په وسيله يې زه ووژلم، د دې دپاره چې زه پوه شم چې ګناه څه شی دی. خو د شريعت حکم د ګناه بې‌حده بدي ښکاره کړه.

۱۴ ځکه چې مونږ پوهېږو چې شريعت روحاني دی، خو زه جسماني يم او لکه د يو غلام په شان



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په ګناه باندې خرڅ شوی یم. ۞۱۵ زه نه پوهېږم چې څه کوم، ځکه زه چې څه غواړم چې ويې کړم
هغه نه کوم، خو هماغه کار کوم چې کرکه ترې لرم. ۞۱۶ اوس چې زه هغه کار کوم چې نه غواړم
ويې کړم، نو دا د دې ښکارندونه کوي چې زه دا منم چې شريعت ښه دی. ۞۱۷ نو اوس زه هغه
څوک نه یم چې دا کار کوم، بلکې دا ګناه ده چې په ما کې اوسېږي او دا کار کوي. ۞۱۸ زه پوهېږم
چې زما په انساني فطرت کې نېکي نشته، ځکه زه غواړم چې ښه کار وکړم، خو کولای يې نه شم.
۞۱۹ ځکه کوم ښه کار چې زه غواړم ويې کړم، هغه نه کوم، خو کوم بد کار چې زه يې نه غواړم،
هغه کوم. ۞۲۰ نو اوس چې زه کوم کار چې نه غواړم ويې کړم، هغه کوم، نو زه د هغه کار سرته
رسوونکی نه یم، بلکې دا ګناه ده چې په ما کې اوسېږي.

۞۲۱ نو زه په دې قانون پوه شوم هرکله چې زه وغواړم کوم ښه کار وکړم، نو بدي مې له لاسه
وشي. ۞۲۲ ځکه چې زه په باطن کې د خدای په شريعت باندې خوشحاله یم. ۞۲۳ خو زه وينم
چې په ما کې يو بل قانون کار کوي چې زما د ذهن د قانون سره په جنګ کې دی او ما د هغې ګناه
د قانون بندي کوي چې په ما کې کار کوي. ۞۲۴ زه خومره بدبخته انسان یم. څوک کولای شي چې
ما د دې بدن نه چې ما مرګ ته سپاري، خلاص کړي؟ ۞۲۵ د خدای شکر کوم چې ماته زموږ د
څښتن عيسی مسيح په وسيله خلاصون راکوي. نو بيا زه په خپل ذهن سره د خدای د شريعت غلامي
کوم، خو په نفساني توګه زه د ګناه د قانون غلامي کوم.

## روحاني ژوند

**۸** ۞۱ نو اوس چې کوم خلک د عيسی مسيح سره په يووالي کې ژوند کوي، هغوی هېڅ محکوم
کېدای نه شي. ۞۲ ځکه چې د خدای د روح قانون چې ماته په عيسی مسيح کې ژوندون راکوي،
زه يې د ګناه او د مرګ د قانون نه خلاص کړی یم. ۞۳ هغه څه چې شريعت د انساني فطرت د
کمزورۍ له امله ونه شو کولای چې سرته يې ورسوي، هغه خدای سرته ورسول. هغه خپل زوی د يو
ګناهکار انساني جسم په شکل کې د ګناهونو د بخښنې دپاره راولېږه، ترڅو ګناه په انساني فطرت کې
محکومه کړي. ۞۴ هغه داسې وکړل د دې دپاره چې د شريعت رښتينې غوښتنې په موږ کې د
نفساني غوښتنو له مخې نه، بلکې د خدای د روح په وسيله چې ژوند کوو، پوره شي. ۞۵ ځکه



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځوک چې د نفساني غوښتنو له مخې ژوند تېروي، نو تل د نفساني شيانو په فکر کې وي. خو ځوک چې د روح القدس د غوښتنو له مخې ژوند کوي، نو هغوی د هغو شيانو په فکر کې وي چې روح القدس يې غواړي. ﴿٦﴾ که چېرې زموږ په ذهنونو باندې نفساني غوښتنې حاکمې وي، نو پای يې مرګ دی. خو که چېرې زموږ په ذهنونو باندې روح القدس حاکم وي، نو نتيجه يې ژوند او سوله ده. ﴿٧﴾ ځکه چې خپل ځان د نفساني شيانو پورې تړل د خدای سره دښمني ده، ځکه چې دا د خدای د قانون اطاعت کول نه دي او په حقيقت کې نه شي کولای چې اطاعت وکړي. ﴿٨﴾ ځوک چې د خپلو نفساني غوښتنو له مخې ژوند تېروي، هغوی نه شي کولای چې خدای خوشحاله کړي.

﴿٩﴾ نو تاسو نور د خپلو نفساني غوښتنو له مخې نه، بلکې د روح القدس د لارښوونې له مخې ژوند کوئ، که په رښتيا سره روح القدس په تاسو کې اوسېږي. که چېرې په چا کې د مسيح روح نه وي، نو هغه د مسيح نه دی. ﴿١٠﴾ خو که چېرې مسيح په تاسو کې اوسېږي، نو که څه هم ستاسو بدن د ګناه له امله مړ هم شي، خو روح القدس تاسو ته ژوند درکوي، ځکه چې تاسو د خدای په نظر کې عادلان ګڼل شوي يئ. ﴿١١﴾ که چېرې روح القدس چې مسيح يې بېرته د مړو نه راژوندی کړ په تاسو کې اوسي، نو لکه څنګه چې عيسی يې بېرته د مړو نه راژوندی کړ، نو ستاسو فاني وجود ته به هم ژوند ورکړي، ځکه چې دغه روح په تاسو کې هم اوسېږي.

﴿١٢﴾ نو بيا ای خويندو او ورونو! موږ مجبوره نه يو چې د انساني فطرت او د هغه د غوښتنو له مخې ژوند وکړو. ﴿١٣﴾ ځکه که چېرې تاسو د خپلو نفساني غوښتنو له مخې ژوند وکړئ، نو مړه به شئ. خو که چېرې د خدای د روح په مرسته خپل د ګناه نه ډک عملونه له منځه يوسئ، نو تاسو به ژوند کوئ. ﴿١٤﴾ ځکه ټول هغه کسان چې د روح په وسيله ورته لارښوونه کيږي، هغوی د خدای اولادونه دي. ﴿١٥﴾ ځکه چې تاسو هغه روح نه دی ترلاسه کړی چې غلامان مو کړي او ستاسو د وېرې سبب شي، بلکې هغه روح مو ترلاسه کړ چې تاسو د خدای دپاره لکه د خپلو اولادونو په شان اوسئ او د هغه په وسيله موږ نارې وهو: «ابا، يعني ای پلاره» ﴿١٦﴾ روح القدس په خپله زموږ د روح سره شاهدي ورکوي چې موږ د خدای اولادونه يو. ﴿١٧﴾ که چېرې موږ د هغه اولادونه يو، نو بيا وارثان هم يو، يعني د خدای وارثان يو او د مسيح په ميراث کې هم شريک يو او که چېرې موږ د هغه سره په کړاوونو کې شريک يو، نو د هغه سره په جلال کې هم شريک يو.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۸ زه فکر کوم چې هغه کړاوونه چې اوس يې مونږ تېروو، د هغه جلال سره د پرتله کولو وړ نه دي چې مونږ ته به وښودل شي. ۱۹ ځکه چې خلقت په شوق سره د خدای د اولادونو د ښکاره کېدلو په انتظار دی. ۲۰ ځکه چې خلقت بې‌معنی شو، خو په خپله رضا نه بلکې د خدای په رضا، په دې هيله چې ۲۱ يوه ورځ به په خپله خلقت د فساد د غلامی نه ازاد شي او د خدای د اولادونو د جلال نه په ډکې ازادی کې شامل شي. ۲۲ ځکه چې مونږ پوهېږو چې ټول خلقت يوځای د درد له لاسه لکه د لنګون د درد په شان تراوسه پورې زګېروي کوي. ۲۳ يوازې خلقت نه، بلکې مونږ هم سره له دې چې روح القدس د خدای د لوړني نعمت په توګه ترلاسه کړی دی، په خپل باطن کې زګېروي کوو لکه څنګه چې دې ته په شوق سره په انتظار يو چې خدای مونږ د خپلو اولادونو په توګه قبول کړي او زمونږ بدن ته خلاصون ورکړي. ۲۴ ځکه چې په همدې هيلې مونږ وژغورل شو. خو که چېرې زمونږ هغه هيله پوره شوې وي، نو بيا د څه شي هيله ولرو؟ ۲۵ خو که چېرې مونږ د هغه څه هيله ولرو چې تراوسه يې نه لرو، نو مونږ په صبر او زغم سره د هغه انتظار کوو.

۲۶ په همدې ډول روح القدس زمونږ په کمزوريو کې زمونږ سره مرسته کوي. ځکه چې مونږ نه پوهېږو چې څنګه بايد دعا وکړو. نو روح القدس زمونږ دپاره داسې په نارو شفاعت کوي چې په خبرو او لفظونو کې بيان کېدلی نه شي. ۲۷ خو خدای چې زمونږ د زړونو نه خبر دی، په دې پوهيږي چې د روح القدس اراده څه ده، ځکه چې روح القدس د خدای د ارادې له مخې د خپلو خلکو شفاعت کوي.

۲۸ مونږ پوهېږو چې هرڅه د هغو خلکو د ښېګڼې دپاره چې د خدای سره مينه کوي او د هغه په اراده ورته بلنه ورکړل شوې ده، په ګډه سره کار کوي. ۲۹ ځکه چې خدای هغوی له پخوا نه پېژندل او هغوی يې له مخکې نه غوره کړي وو چې د هغه د زوی په شان شي، ترڅو هغه په ټولو خوېندو او ورونو کې لومړنی زېږېدلی وي چې لوړ مقام ولري. ۳۰ او هغه کسان چې هغه له مخکې نه غوره کړي وو، رابللي يې دي او هغه رابلل شوي يې عادلان وګڼل او کوم کسان چې هغه عادلان کړي دي، هغوی ته يې خپل جلال هم ورکړ.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## په مسیح کې د خدای مینه

(۳۱) نو بیا مونږ د دې شیانو په هکله څه ویلی شو؟ که خدای زمونږ په خوا دی، نو بیا څوک
کولای شي چې زمونږ په خلاف شي؟ (۳۲) هغه خپل زوی هم زمونږ څخه دریغ نه کړ، بلکې هغه
یې زمونږ د ټولو په خاطر د قربانی په توګه وړاندې کړ، نو همدارنګه ایا هغه به هرڅه مونږ ته وړیا
رانه کړي؟ (۳۳) څوک به د خدای په غوره شویو خلکو باندې تور ولګوي؟ ځکه چې خدای په
خپله اعلانوي چې هغوی عادلان ګڼي. (۳۴) نو بیا څوک هغوی محکومولی شي؟ ځکه چې عیسی
مسیح هغه څوک دی چې مړ شو خو بیا راژوندی شو او هغه د خدای ښي لاس ته ناست دی او په
رښتیا سره زمونږ شفاعت کوي. (۳۵) نو بیا څوک به مونږ د مسیح د مینې نه بېل کړي؟ ایا مصیبت او
کړاوونه، یا ځورونه یا لوږه، لوڅوالی یا خطر یا توره؟ (۳۶) لکه څنګه چې د خدای په کلام کې
لیکل شوي دي:

مونږه له مرګه سره مخ یو هر وخت ستا په خاطر

مونږه ګڼي هغو پسونو په شان وي چې حلالې دپاره

(۳۷) خو نه، له دې هرڅه سره سره د عیسی مسیح په وسیله چې زمونږ سره یې مینه وکړه، پوره
برې زمونږ په برخه دی. (۳۸) ځکه زه ډاډمن یم چې نه مرګ او نه ژوند، نه فرښتې، نه اسماني
واکمنان، نه اوسني او نه راتلونکي شیان، نه قدرتونه، (۳۹) نه لوړې او ژورې او نه په ټول خلقت کې
نور شیان کولای شي چې مونږ د خدای د هغې مینې نه بېل کړي چې زمونږ په څښتن عیسی مسیح
کې ده.

## د خدای غوره شوی قوم

۹ (۱) زه د مسیح سره تړاو لرم، نو رښتیا وایم او دروغ نه وایم. زما وجدان چې د روح القدس
تابعداري کوي، د دې شاهد دی (۲) چې زما په زړه کې د خپل قوم یعنې یهودیانو په خاطر چې
زما خپلوان دي ډېر لوی غم او نه‌ختمېدونکی خفګان دی. (۳) د هغوی دپاره زه به دې هیله وم



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې لعنتي شم او د مسیح نه بېل شم. ۴ هغوی اسراییلیان دي او هغوی ته د خدای اولادونه ویل شوي دي او جلال، لوظونه، شریعت، د عبادت مراسم او وعدې ورکړل شوي دي. ۵ زمونږ نیکونه یعنې ابراهیم، اسحاق او یعقوب هم د هغوی سره تړاو لري او مسیح په انساني لحاظ د هغوی د نسل شخه دی. خدای چې په ټولو باندې حکومت کوي، هغه ته دې تل ترتله ثنا وي. امین.

۶ دا په دې معنی نه ده چې د خدای کلام خپل مقصد ته نه دی رسېدلی. ځکه چې ټول اسراییلیان د خدای غوره شوي خلک نه دي. ۷ او نه هم د ابراهیم ټول نسل د خدای اولادونه دي. ځکه چې خدای ابراهیم ته وویل: «ستا نسل به د اسحاق شخه حساب شي.» ۸ مقصد دا چې هغه ټول اولادونه چې په جسماني لحاظ د ابراهیم د نسل شخه پیدا شوي دي، د خدای اولادونه نه ګڼل کیږي، بلکې یوازې هغوی د خدای په اولادونو کې حسابیږي چې د خدای د وعدې له مخې پیدا شوي دي. ۹ ځکه چې د خدای وعده داسې وه: «کله چې زه په راتلونکي کال کې په همدې وخت بېرته راشم، نو ساره به زوی ولري.»

۱۰ یوازې دا نه، بلکې ربکا د یو کس نه چې هغه زمونږ نیکه اسحاق دی، امیدواره شوه. ۱۱-۱۲ خو د دې دپاره چې د خدای مقصد د دې غبرګونکو شخه د یو په غوره کولو کې پوره شي، نو خدای ربکې ته وویل: «مشر زوی به د کشر خدمت کوي.» هغه دا خبره د هغوی د زیږېدلو نه مخکې وکړه او مخکې له دې چې هغوی کوم ښه یا بد کار وکړي. ترڅو دا وښایي چې د خدای غوره کېدل د هغه د بلنې له مخې وو، نه د هغوی د عملونو له مخې. ۱۳ لکه څنګه چې د خدای په کلام کې لیکل شوي دي:

یعقوب راباندې ګران ؤ، خو عیسو مې رد کړ.

۱۴ نو بیا مونږ څه ووایو؟ ووایو چې خدای بې‌انصافه دی؟ هېڅکله نه! ۱۵ ځکه چې خدای موسی ته وویل: «زه چې په هرچا باندې وغواړم رحم وکړم، نو رحمورباندې کوم او په هرچا باندې چې وغواړم زړه وسوځوم، نو زړه ورباندې سوځوم.» ۱۶ نو دا د انسان د خوښې او کوښښ پورې اړه نه لري، بلکې یوازې د خدای د رحم پورې اړه لري. ۱۷ ځکه چې د خدای کلام فرعون ته وایي: «ته ما د دې دپاره پاچا کړې چې ستا په وسیله خپل قدرت وښایم او زما نوم په ټوله دنیا کې



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مشهور شي.» ۱۸ نو هغه چې وغواړي په چا باندې رحم وکړي، نو رحمورباندې کوي او که
وغواړي چې د چا زړونه سخت کړي، نو د هغوی زړونه سختوي.

## د خدای قهر او رحم

۱۹ نو تاسو به ماته ووایئ: «نو بیا ولې خدای مونږ ملامتوي؟ ځکه څوک کولای شي چې د هغه د
ارادې په وړاندې ودریږي؟» ۲۰ ای انسانه، ته څوک يې چې بېرته خدای ته ځواب ورکوې؟ ایا یو
لوښی کلال ته ویلی شي چې زه دې ولې داسې جوړ کړی یم؟ ۲۱ ایا یو کلال دا حق نه لري چې
د هماغې یو موټې خاورې نه یو لوښی د ځانګړې کارونې دپاره او بل د عادي کارونې دپاره جوړ
کړي؟

۲۲ خدای هم همداسې کړي وو. هغه غوښتل چې خپل قهر وښايي او خپل قدرت ښکاره کړي.
خو هغه د هغو کسانو په اړه د ډېر صبر او زغم څخه کار واخیست چې باید تباه شي. ۲۳ هغه
داسې وکړل، ترڅو خپل لوی جلال هغو خلکو ته ښکاره کړي چې رحم ورباندې وشي، یعنې هغه
خلک چې د مخکې نه يې دې ته تیار کړي وو چې د هغه جلال ترلاسه کړي. ۲۴ ځکه چې مونږ
هغه خلک یو چې هغه رابللي یو، یعنې یوازې هغه خلک نه چې یهودیان دي، بلکې د غیریهودیانو له
منځ نه هم رابلل شوي دي.

۲۵ لکه څنګه چې خدای د هوشع نبي په کتاب کې وايي:

هغه خلک چې زما نه وو، زه به هغوی ته خپل خلک ووایم او هغه خلک چې په ما باندې ګران نه
وو، هغوی ته وبه وایم «خپل ګران.» ۲۶ هغوی ته په هماغه ځای کې ویل شوي وو: «تاسو زما
خلک نه یئ،» نو په هماغه ځای کې به هغوی ته وویل شي: «د ژوندي خدای اولادونه.»

۲۷ او اشعیا نبي هم په لوړ اواز د اسراییلو په هکله داسې وايي:

که څه هم اسراییلیان به لکه د بحیرې د بېشمېره شګې په شان وي، خو د هغوی څخه به لږ شمېر
يې خلاصون ومومي، ۲۸ ځکه څښتن به د ټولو خلکو په باره کې به په پوره توګه او زر د ځمکې



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په مخ خپل قضاوت ترسره کړي.

۲۹ او لکه څنګه چې اشعیا مخکې پېشګویي کړې وه:

که مونږ ته مطلق قادر څښتن نسلونه پرینبي نه وای، نو مونږ به د سدوم او عمورې په شان تباه شوي وای.

## د اسراییلو بې‌ایماني

۳۰ نو بیا مونږ څه ووایو؟ که څه هم غیریهودیانو کوښښ نه کاوه چې د خدای په نظر کې عادلان
وګڼل شي، خو هغه یې د ایمان په وسیله ترلاسه کړ. ۳۱ خو اسراییلیانو چې کوښښ کاوه د شریعت
په وسیله عادلان وګڼل شي، نو هغه یې ترلاسه نه کړ. ۳۲ ځکه چې د هغوی کوښښ د ایمان له
لارې نه، بلکې د هغوی د خپلو عملونو په بنیاد ؤ. نو هغوی په هغې ښویېدونکې تیږې باندې
وښویېدل. ۳۳ لکه څنګه چې د خدای په کلام کې لیکل شوي دي:

ګورئ، زه په صهیون کې یوه داسې تیږه ږدم چې د خلکو د ښویېدلو سبب شي او یو داسې ګټ چې هغوی پرې ولوېږي. خو هرڅوک چې په هغه باندې ایمان راوړي، نو هېڅکله به ونه شرمېږي.

۱۰ ۱ ای خویندو او ورونو! زما د زړه غوښتنه او خدای ته دا دعا ده چې زما قوم خلاصون
ومومي. ۲ زه په دې شاهدي ورکوم چې هغوی د خدای په هکله غیرتي دي، خو د هغوی غیرت
د پوهې له مخې نه دی. ۳ ځکه چې هغوی هغه لاره ونه پېژندله چې خدای د هغې په وسیله
خلک په خپل حضور کې عادلان ګڼي او د هغه په ځای کوښښ یې وکړ چې خپله لاره عادلانه
وښایي او په دې ډول هغوی د خدای د عدالت تابعداري نه کوي. ۴ ځکه چې مسیح د شریعت
پوره کوونکی دی، نو هرڅوک چې په هغه باندې ایمان راوړي، هغوی به د خدای په حضور کې
عادلان وګڼل شي.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۵ موسی د عادل کېدلو په هکله چې د شريعت په وسيله ترلاسه کيږي، ليکي: «څوک چې په شريعت باندې عمل کوي، نو د هغه په وسيله به ژوند کوي.» ۶ خو د هغه عدالت په هکله چې د ايمان په وسيله ترلاسه کيږي، وايي: «په خپل زړه کې داسې مه وايئ: ‹څوک به اسمان ته وخيژي؟› د دې دپاره چې مسيح لاندې راولي. ۷ يا داسې مه وايئ: ‹څوک کولای شي چې ښکته د مړو دنيا ته لاړ شي؟› د دې دپاره چې مسيح د مړو نه راژوندی کړي.» ۸ د خدای کلام څه وايي؟

د خدای پيغام تا سره نژدې دی. هغه ستا په خوله او ستا په زړه کې دی.

هغه پيغام د ايمان پيغام دی چې موږ يې اعلانوو: ۹ که چېرې ته په خپله خوله اقرار وکړې چې عيسی څښتن دی او په خپل زړه کې په دې ايمان ولرې چې خدای هغه د مړو نه راژوندی کړی دی، نو ته به خلاصون ومومې. ۱۰ ځکه که څوک د زړه نه ايمان راوړي، نو هغه به نيک وګڼل شي او که په خپله خوله د خپل ايمان اقرار وکړي، نو هغه به خلاصون ومومي. ۱۱ د پيغمبرانو په ليکنو کې ويل شوي دي: «هرڅوک چې په هغه باندې ايمان راوړي، نو هېڅکله به ونه شرميږي.» ۱۲ نو ځکه د يهودي او غيريهودي ترمنځ هېڅ فرق نشته، ځکه چې د ټولو څښتن يو دی او هغو ټولو کسانو ته چې د هغه نه مرسته غواړي، زيات برکتونه ورکوي. ۱۳ لکه څنګه چې د خدای کلام وايي: «هرڅوک چې د څښتن په نوم مرسته وغواړي، نو هغه به وژغورل شي.»

۱۴ خو که چېرې هغوی په هغه باندې ايمان نه وي راوړی، نو څنګه به هغه ته اواز وکړي او مرسته به ورڅخه وغواړي؟ او څنګه کولای شي چې په هغه باندې ايمان راوړي چې د هغه په هکله يې څه نه وي اورېدلي؟ او هغوی به يې څنګه واوري ترڅو چې څوک ورته پيغام نه وي رسولی؟ ۱۵ او هغوی به څنګه پيغام ورسوي، ترڅو د دې کار دپاره لېږل شوي نه وي؟ لکه څنګه چې د خدای په کلام کې ليکل شوي دي:

څومره ښکلې دي د پيغام وړونکي قدمونه چې زېری رسوي.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۶ خو هغوی ټولو هغه زیری قبول نه کړ، ځکه اشعیا نبي وايي: «ای څښتنه، چا زمونږ په پیغام باندې باور کړی دی؟» ۱۷ نو ایمان د پیغام په اورېدلو سره پیدا کیږي او پیغام د مسیح د کلام په وسیله اورېدل کیږي.

۱۸ خو زه پوښتنه کوم چې ایا د اسراییلو قوم پیغام نه دی اورېدلی؟ بې له شکه چې اورېدلی یې دی، ځکه لکه څنګه چې د خدای کلام وايي:

د زیري رسوونکو اواز په ټوله دنیا کې اورېدل کیږي او د هغوی خبرې د دنیا تر بل سره پورې رسیږي.

۱۹ خو زه یوځل بیا پوښتنه کوم چې ایا د اسراییلو خلک په دې پوه نه شول؟ موسی لومړنی کس دی چې وايي:

زه به په تاسو کې د هغو خلکو په وسیله بخیلي پیدا کړم چې په قوم کې نه شمېرل کیږي او د یو نا پوهه قوم په وسیله به ستاسو قهر راوپاروم.

۲۰ بیا اشعیا په ډېرې زړورتیا سره وايي:

زه هغو خلکو پیدا کړم چې زما په لټه کې نه وو او خپل ځان مې هغو خلکو ته ښکاره کړ چې زه یې نه غوښتلم.

۲۱ خو د اسراییلو د قوم په هکله خدای وايي:

ټوله ورځ مې هغو خلکو ته د پخلاینې دپاره غېږه خلاصه کړې وه چې نافرمانه او سرکښه وو.

## په اسراییلو باندې د خدای رحم

۱۱ ۱ زه پوښتنه کوم چې ایا خدای خپل قوم رد کړی دی؟ هېڅکله نه! زه خپله هم اسراییلی



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

يم، د ابراهيم د نسل نه او د بنيامين د قبيلې څخه يم. ٢ خدای خپل هغه قوم نه دی رد کړی چې
د مخکې نه يې غوره کړی ؤ. ايا تاسو نه پوهېږئ چې د خدای کلام د الياس پيغمبر په هکله څه
وايي چې هغه څنګه د اسراييلو په خلاف خدای ته شکايت کوي او وايي: ٣ «څښتنه، هغوی ستا
پيغمبران وژلي دي، ستا د قربانۍ ځايونه يې وران کړي دي او زه يوازې پاتې يم او هغوی هڅه کوي
چې ما هم ووژني.» ٤ خو خدای هغه ته څه ځواب ورکړ؟ هغه دا ځواب ورکړ: «ما د خپل ځان
دپاره اووه زره کسان چې د بعل بت ته يې سجده نه ده کړې، ساتلي دي.» ٥ همدارنګه په دې
اوسنۍ زمانه کې هم يو شمېر خلک پاتې دي چې د خدای په فضل سره غوره شوي دي. ٦ خو
که چېرې دا د فضل په وسيله وي، نو بيا د انسان د عملونو په وسيله نه دی. که نه، نو بيا فضل کومه
معنی نه لري.

٧ نو بيا دا څه معنی؟ د اسراييلو خلک چې د کوم شي په لټه کې وو، هغه يې ترلاسه نه کړ. د
خدای غوره شويو کسانو ترلاسه کړ، خو د نورو زړونه سخت شول. ٨ لکه څنګه چې د خدای په
کلام کې ليکل شوي دي:

خدای هغوی په روحاني درانه خوب ويده کړل چې تر نن ورځې پورې نه څه ليدلی شي او نه څه
اورېدلی شي.

٩ او داود وايي:

پرېږده چې دسترخوان يې ورته تيلک او دام شي او تېره ورته داسې شي چې پرې ونښوييږي او د
خپلو کارونو سزا ووينې. ١٠ پرېږده چې سترګې يې ړندې شي چې هېڅ ونه ويني او ملاګانې يې د
تل دپاره کږوپې شي.

١١ نو زه پوښتنه کوم، ايا هغوی داسې ونښوييدل چې بيا به هېڅکله راپورته نه شي؟ هېڅکله نه،
بلکې د هغوی د سرغړونې په سبب خلاصون د غيريهوديانو په برخه شو او له همدې امله د اسراييلو
سره کينه پيدا شوه. ١٢ اوس که چېرې د هغوی سرغړونه د دنيا د برکت سبب شوه او د هغوی
روحاني ماتې د غيريهوديانو دپاره د برکت سبب شوه، نو بيا به د هغوی برکتونه نور څومره زيات



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شي چې کله ټول اسراييل په کې شامل شي.

## د غير يهوديانو ژغورل

۱۳ اوس تاسو غيريهوديانو ته وايم چې زه د غيريهوديانو دپاره رسول يم او په خپل کار باندې ویاړ کوم. ۱۴ ځکه کېدای شی چې په دې ډول وکولای شم د خپل قوم حسد او بخيلي راوپاروم او د هغوی څخه ځينې يې وژغورم. ۱۵ ځکه که د هغوی رد کېدل د دنيا سره د خدای د پخلا کېدلو سبب شو، نو د هغوی منل به لکه د مرګ نه د بيا راژوندي کېدلو په معنی وي. ۱۶ که چېرې د اوړو لومړنی پېړه چې خدای ته د نذرانې په توګه وړاندې کيږي، سپېڅلې وي، نو بيا ټوله خميره هم سپېڅلې ده. او که د ونې ريښې سپېڅلې وي، نو ښانګې يې هم سپېڅلې دي.

۱۷ خو که چېرې ځينې ښانګې پرېکړل شي او ته چې د ځنګلي زيتون يوه ښانګه وې، په نورو ښانګو کې پيوند شوې او د اصلي زيتون د ونې په ګټوره ريښه کې شريک شوې، ۱۸ نو خپل ځان د نورو ښانګو نه لوړ مه ګڼه. که چېرې خپل ځان لوړ ګڼې، نو ياد ساته چې ريښه په تا باندې ولاړه نه ده، بلکې ته په ريښې باندې ولاړ يې. ۱۹ خو ته به وايې: «ښانګې د دې دپاره پرېکړل شوې چې زه په کې پيوند شم.» ۲۰ دا رښتيا ده. هغوی د خپلې بې‌ايمانی له امله پرېکړل شوې، خو ته د ايمان په وسيله هلته پاتې کېږې. نو مغرور کېږه مه، بلکې ووېرېږه. ۲۱ ځکه که خدای هغه طبيعي ښانګې په خپل ځای پرېښنبودلې، نو تا به هم پرېنږدي. ۲۲ نو د خدای مهرباني او سخت قضاوت په پام کې ونيسه. خدای د هغو خلکو په وړاندې سختګيره دی چې لېرې لوېدلې دي، خو ستا په وړاندې مهربانه دی، که چېرې ته د هغه په مهربانۍ کې پاتې شې. که نه، نو ته به هم پرېکړل شې.
۲۳ که چېرې يهوديان په بې‌ايمانۍ کې پاتې نه شي، نو هغوی به بيا پيوند کړل شي، ځکه چې خدای قدرت لري چې هغوی يوځل بيا سره پيوند کړي. ۲۴ ځکه که چېرې تاسو غيريهوديان د ځنګلي زيتون د ونې نه پرېکړل شوي يئ او د خپل فطرت په خلاف د اصلي زيتون د ونې سره پيوند شوي يئ، نو بيا به هغه اصلي ښانګې څومره په اسانۍ سره پيوند شي چې د اصلي زيتون د ونې خپلې ښانګې دي.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۵ ای خویندو او ورونو! زه نه غواړم چې تاسو د دې پټ راز نه بېخبره پاتې شئ او په خپلې پوهې باندې مغرور شئ. د ځینو اسراییلیانو زړونه سخت شوي دي او دا به تر هغه وخته پورې دوام وکړي، ترڅو د هغو غیریهودیانو شمېر پوره شي چې خلاصون مومي. ۲۶ په دې ډول به ټول اسراییل خلاصون ومومي. لکه څنګه چې لیکل شوي دي:

خلاصوونکی به د صهیون څخه راشي او هغه به د یعقوب د نسل څخه بېدیني لېرې کړي. ۲۷ زه به د هغوی سره لوظ وکړم چې د هغوی ګناهونه لېرې کړم.

۲۸ د زېري په خاطر یهودیان د خدای دښمنان شول او دا ستاسو په ګټه دی. د خدای د خوښې له امله هغوی اوس هم خدای ته د هغوی د نیکونو ابراهیم، اسحاق او یعقوب په خاطر ګران دي. ۲۹ ځکه چې د خدای نعمتونه او بلنه نهبدلېدونکي دي. ۳۰ لکه څنګه چې تاسو غیریهودیانو یو وخت د خدای په وړاندې نافرماني کوله، خو اوس په تاسو باندې د یهودیانو د نافرمانی له امله رحم وشو، ۳۱ نو اوس هغوی نافرماني کوي او په تاسو باندې د خدای رحم وشو، نو له دې امله په هغوی باندې به هم د هغه رحم وشي. ۳۲ خدای ټول خلک په نافرمانی کې راګېر کړل، ترڅو په ټولو باندې رحم وکړي.

۳۳ واه، د خدای شتمني څومره زیاته ده او د هغه حکمت او پوهه څومره ژوره ده! د هغه قضاوتونه څومره پټ او د هغه په لارو پوهېدل څومره سخت دي. ۳۴ ځکه د خدای په کلام کې لیکل شوي دي:

څوک کولای شي چې د څښتن په فکرونو باندې پوه شي؟ یا څوک کولای شي چې هغه ته مشوره ورکړي؟ ۳۵ یا چا خدای ته کوم شی ورکړی دی چې بېرته یې ترې واخلي؟

۳۶ ځکه چې ټول شیان د هغه له خوا دي او د هغه په وسیله پیدا شوي دي او د هغه دپاره دي. د هغه جلال دې تل ترتله وي. امین.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## په مسيح کې نوی ژوند

**١٢** ① نو له دې امله ای خويندو او ورونو! زه د خدای د رحمتونو په خاطر ستاسو نه غوښتنه
کوم چې خپل ځانونه خدای ته د ژوندی او سپېڅلي قربانۍ په توګه چې هغه ته د منلو وړ وي،
وړاندې کړئ. دا ستاسو رښتينی او مناسب عبادت دی. ② د دې دنيا په شان مه کېږئ، بلکې
پرېږدئ چې د خپلو فکرونو په نوي کولو سره خدای تاسو بدل کړي. بيا به تاسو وکولای شئ چې د
خدای اراده وپېژنئ او هغه څه چې ښه، د منلو وړ او کامل دي، وپېژنئ.

③ د هغه فضل له مخې چې ماته راکړل شوی دی، زه تاسو هر يو ته وايم چې خپل ځان لکه
څنګه چې اوس يئ، د دې نه لوړ مه ګڼئ. بلکې عاجز اوسئ او د هغه ايمان د اندازې له مخې چې
خدای تاسو هر يو ته درکړی دی، فکر وکړئ. ④ لکه څنګه چې زمونږ په بدن کې ډېر غړي دي
او د ټولو غړو کار يوشان نه دی، ⑤ نو مونږ چې ډېر يو، خو په مسيح کې يو بدن يو او د يو بل
غړي يو.

⑥ مونږ بايد د هغو مختلفو نعمتونو څخه چې خدای راته د خپل فضل له مخې راکړي دي، کار
واخلو. که چېرې هغه د خدای د پيغام رسول وي، نو هغه بايد د خپل ايمان له مخې سرته ورسوو.
⑦ که خدمت کول وي، نو بايد خدمت وکړو. که هغه تعليم ورکول وي، نو بايد تعليم ورکړو. ⑧
که هغه د نورو هڅول وي، نو بايد ويې هڅوو. که چېرې د مالي مرستې ورکول وي، نو د سخاوت له
مخې يې ورکړو، که چېرې د مشرۍ نعمت وي نو په کوښښ سره يې وکړو، که چېرې د مهربانۍ کولو
نعمت وي، نو په خوشحالۍ سره رحم وکړو.

⑨ ستاسو مينه دې رښتينې او سوچه وي. د بدو نه کرکه کوئ او په نېکۍ کې ټينګ ودرېږئ. ⑩
يو د بل سره د وروروليۍ مينه کوئ او هر يو دې د خپل ځان نه زيات د نورو درناوی وکړي. ⑪
په خپل کار کې تنبلي مه کوئ او په روحاني شوق سره د څښتن خدمت کوئ. ⑫ ستاسو هيله دې
تاسو خوشحاله ساتي، په مصيبت کې صبر او زغم ولرئ او هر وخت دعا کوئ. ⑬ د محتاجو
ايماندارانو سره مرسته کوئ او ميلمه‌پال اوسئ.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

(۱۴) څوک چې تاسو څوروي، د هغوی دپاره برکت غواړئ، نه لعنت. (۱۵) څوک چې خوشحاله وي، نو خوشحالي ورسره کوئ او څوک چې ژاړي، نو ورسره ژړا کوئ. (۱۶) یو د بل سره په همغږۍ کې ژوند کوئ. مغرور مه اوسئ، بلکې د ټیټ مقام لرونکو خلکو سره ملګرتیا کوئ. خپل ځان د نورو څخه هوښیار مه ګڼئ.

(۱۷) د بدۍ په بدل کې د چا سره بدي مه کوئ. خو پام کوئ چې هغه کارونه باید وکړئ چې د ټولو په نظر کې ښه وګڼل شي. (۱۸) ترڅو پورې چې کېدای شي او ستاسو پورې اړه ولري، نو د ټولو خلکو سره په سوله کې ژوند تېروئ. (۱۹) ګرانو دوستانو، هېڅکله خپل بدل مه اخلئ، بلکې هغه د خدای قهر او غضب ته پرېږدئ، ځکه چې د خدای په کلام کې لیکل شوي دي:

څښتن وايي: «بدل اخیستل زما کار دی، زه بدل اخلم.»

(۲۰) د دې په ځای لیکل شوي دي:

که چېرې ستا دښمن وږی وي، نو هغه ته خواړه ورکړه چې ویې خوري. که چېرې تږی وي، نو هغه ته اوبه ورکړه چې ویې څښي. په دې کار به ته د هغه په سر باندې اور بل کړې او څښتن به تاته اجر درکړي.

(۲۱) مه پرېږده چې بدي درباندې غالبه شي، بلکې د نېکۍ په وسیله په بدۍ باندې بری ترلاسه کړه.

## د واک د خاوندانو په وړاندې زمونږ دنده

**۱۳** (۱) هرڅوک دې د حکومتي واکمنانو تابعداري کوي، ځکه چې د خدای له اجازې پرته څوک نه شي کولای چې حکومت وکړي او اوسني واکمنان د خدای له خوا ټاکل شوي دي. (۲) له دې امله څوک چې د واکمنانو سره مخالفت کوي، نو د خدای سره چې هغوی یې ټاکلي دي، مخالفت کوي او څوک چې مخالفت کوي، هغوی به په خپله خپل ځان ته سزا ورکوي. (۳) ځکه چې واکمنان د ښو خلکو د وېرې سبب نه ګرځي، بلکې بدکاران ترې وېرېږي. که چېرې غواړئ چې د



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

قدرت د خاوندانو څخه وېره ونه لرئ، نو ښیا ښه کار کوئ او هغوی به ستاسو ستاینه کوي. ﴿۴﴾ ځکه چې هغوی د خدای خدمتګاران دي او ستاسو د ښېګڼې دپاره دي. خو که چېرې تاسو غلط کار کوئ، نو ښیا ووېرېږئ، ځکه چې هغوی د خپل ځان سره توره بې‌دلیله نه ګرځوي. هغوی د خدای خدمتګاران دي او د خدای د غضب له لارې بدکارانو ته سزا ورکوي. ﴿۵﴾ له همدې امله باید د واک د خاوندانو تابع اوسئ، یوازې د خدای د غضب نه د ځان ساتلو دپاره نه، بلکې د خپل وجدان په خاطر. ﴿۶﴾ له همدې امله تاسو هم خپله مالیه ورکوئ، ځکه چې د واک خاوندان د خدای خدمتګاران دي او په خپلو دندو کې بوخت دي. ﴿۷﴾ د کومو خلکو نه چې مو پور اخیستی وي، هغوی ته خپل پور بېرته ورکړئ. د مالیې اخیستونکو ته مالیه ورکوئ او محصول د محصول اخیستونکو ته ورکوئ. څوک چې د درناوي وړ وي، د هغوی درناوی کوئ او د عزت د خاوندانو عزت کوئ.

## د یو بل په وړاندې زمونږ دنده

﴿۸﴾ د هېچا پور په ځان باندې مه پرېږدئ، بلکې ستاسو یوازېنی کار د یو بل سره مینه کول دي. ځکه څوک چې د نورو سره مینه کوي، هغه په شریعت باندې پوره عمل کړی دی. ﴿۹﴾ ځکه چې دا حکمونه دي: «زنا مه کوه، قتل مه کوه، غلا مه کوه، د نورو څخه د کوم شي تمه مه کوه» او نور حکمونه هم دي چې په دې حکم کې په لنډه توګه بیانیږي: «د خپل ګاونډي سره د خپل ځان په شان مینه کوه.» ﴿۱۰﴾ څوک چې د خپل ګاونډي سره مینه کوي، نو د هغه سره بد نه کوي. نو له دې امله مینه کول د شریعت پوره کول دي.

﴿۱۱﴾ همدارنګه لکه څنګه چې تاسو پوهېږئ چې همدااوس هغه وخت رارسېدلی دی چې باید د خوب نه راویښ شئ. ځکه چې اوس زمونږ خلاصون د هغې ورځې نه ډېر رانژدې شوی دی چې کله مو ایمان راوړ. ﴿۱۲﴾ شپه تېره شوې ده او ورځ رانژدې ده. نو راځئ چې د تیارې د کارونو نه لاس واخلو او د رڼا د زغرو کالي واغوندو. ﴿۱۳﴾ راځئ چې د هغو کسانو په شان چې په رڼا کې ژوند کوي، مناسب چلند وکړو، نه په عیاشۍ او نشو کې، نه په جنسي بداخلاقۍ او فساد کې، نه په جګړو او کینو کې. ﴿۱۴﴾ د دې په ځای د څښتن عیسی مسیح د فطرت لباس واغوندئ او نور د



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خپلو نفساني غوښتنو د پوره کولو په فکر کې مه اوسئ.

## د نورو په هکله قضاوت مه کوئ

**۱۴** ۱ هغه خلک چې په خپل ایمان کې کمزوري دي، هغوی ومنئ، خو د هغوی سره د هغوی د شخصي نظریو په هکله شک او بحث مه کوئ. ۲ یو کس په دې عقیده دی چې هغه کولای شي چې هرڅه وخوري، خو څوک چې په ایمان کې کمزوری وي، هغه یوازې سابه خوري. ۳ څوک چې هرڅه خوري، نو هغه باید هغه چاته په سپکه سترګه ونه ګوري چې هغه یې نه خوري او څوک چې هرڅه نه خوري، باید د هغه چا په هکله قضاوت ونه کړي چې هرڅه خوري، ځکه چې خدای هغه قبول کړی دی. ۴ ته څوک یې چې د بل چا د نوکر په هکله قضاوت کوې؟ دا چې هغه نوکر په خپل خدمت کې بریالی دی او که نه، دا د هغه د بادار پورې اړه لري. خو هغه به بریالی شي، ځکه چې څښتن کولای شي چې هغه بریالی کړي.

۵ یو کس یوه ورځ د نورو ورځو نه سپېڅلې ګڼي، په داسې حال کې چې بل کس ټولې ورځې یوشان ګڼي. هرڅوک باید په دې باندې ډاډمن اوسي چې کوم فکر چې هغه یې لري، هغه سم دی.
۶ څوک چې یوه ورځ سپېڅلې او مهمه ګڼي، هغه یې څښتن ته د درناوي دپاره ګڼي. څوک چې هرڅه خوري، نو څښتن ته د درناوي دپاره یې خوري، ځکه چې هغه وربانديې د خدای شکر کوي. خو څوک چې هرڅه نه خوري، هغه یې هم څښتن ته د درناوي دپاره نه خوري او د خدای شکر کوي. ۷ ځکه چې زمونږ څخه هېڅوک هم د خپل ځان دپاره ژوند نه کوي او هېڅوک هم د خپل ځان دپاره نه مړ کېږي. ۸ ځکه که چېرې مونږ ژوند کوو، نو د څښتن دپاره یې کوو او که مړه کېږو، نو د څښتن دپاره مړه کېږو. نو که چېرې مونږ ژوندي یو یا مړه کېږو، مونږ د څښتن یو. ۹ له همدې امله مسیح مړ شو او بیا راژوندی شو، ترڅو هغه د مړو او ژوندیو دواړو څښتن وي. ۱۰ نو بیا ته ولې د بل ایماندار په هکله قضاوت کوې؟ یا ولې بل ایماندار ته په سپکه سترګه ګورې؟ ځکه چې مونږ ټول به د خدای د قضاوت د تخت په مخکې ودرېږو. ۱۱ ځکه چې د خدای په کلام کې لیکل شوي دي:



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ښبنتن وايي چې زه په خپل ذات باندې قسم خورم چې هر يو به زما په مخکې په ګونډو شي او هر يو به په خپله ژبه اقرار وکړي چې زه خدای يم.

۱۲ نو بيا به مونږ هر يو د خپل ځان په هکله خدای ته حساب ورکوو.

## د نورو ايماندارانو د ښويېدلو سبب مه کېږئ

۱۳ نو راځئ چې نور د يو بل په هکله قضاوت ونه کړو، بلکې د هغې په ځای پرېکړه وکړو چې د بل ايماندار په لاره کې تيږه کېنږدو چې وربانديې وښوييږي او يا د هغه د لارې خنډ شو، ترخو ګناه وکړي. ۱۴ زه پوهېږم او ځرنګه چې زه په ښبنتن عيسی باندې ډاډمن يم چې هېڅ شی په خپله ناپاکه نه دی، خو څوک يې چې ناپاک ګڼي، نو د هغه دپاره ناپاکه دی. ۱۵ که چېرې بل ايماندار په هغه خوړو باندې چې ته يې خورې خفه کيږي، نو ته نور په مينه چلند نه کوې. ته چې څه خورې په هغو باندې د هغه چا د تباهی او هلاک کېدلو سبب مه ګرځه چې مسيح د هغه دپاره مړ شو. ۱۶ نو څه چې ستاسو دپاره ښه دي، مه پرېږدئ چې نور ورته بد ووايي. ۱۷ ځکه چې د خدای پاچاهي خوړل او څښل نه دي، بلکې عدالت، سوله او خوشحالي ده چې روح القدس يې ورکوي. ۱۸ څوک چې په دې ډول د مسيح خدمت کوي، نو هغه خدای ته د منلو وړ دی او خلک يې خوښوي.

۱۹ نو بيا راځئ چې د هغو شيانو پسې وګرځو چې زمونږ ترمنځ د سولې او سلامتی سبب ګرځي او يو د بل سره مرسته وکړو چې ټينګ ايمان ولرو. ۲۰ د خوراک په خاطر د خدای کار مه خرابوئ. په حقيقت کې هرڅه پاک دي، خو دا غلطه ده چې کوم څوک هغه څه وخوري چې د نورو د ښويېدلو او ګناه سبب شي. ۲۱ دا به ښه وي چې ته غوښه ونه خورې يا شراب ونه څښې او بل داسې کار ونه کړې چې د نورو ايماندارانو د ښويېدلو سبب شي. ۲۲ په کوم شي چې ته عقيده لرې، هغه د خدای او په خپل منځ کې وساته. بختور دي هغه خلک چې خپل ځانونه د هغه څه په خاطر چې د هغوی په نظر کې سم دي او ترسره کوي يې، مجرم نه ګڼي. ۲۳ خو که چېرې څوک کوم څه وخوري او په هغه باندې شکمن وي، نو هغه محکوم دی، ځکه چې هغه د ايمان له مخې دا عمل نه کوي او هر عمل چې د ايمان له مخې نه وي، هغه ګناه ده.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## خپل ځان نه بلکې نور خلک خوشحالوئ

۱۵ ۱ مونږ چې په ایمان کې ټینګ یو، باید د کمزرو کمزورتیا وزغمو او یوازې د خپل ځان د
خوشحالی په فکر کې ونه اوسو. ۲ مونږ هر یو باید د خپل ګاونډي د ښېګنې او خوشحالی دپاره
مرسته وکړو، ترڅو د هغوی ایمان ډېر قوي شي. ۳ ځکه چې مسیح هم کوښښ ونه کړ چې خپل
ځان خوشحاله کړي. خو لکه څنګه چې د خدای په کلام کې لیکل شوي دي: «کومو خلکو چې
ستاسو سپکاوی وکړ، هغوی زما سپکاوی هم وکړ.» ۴ ځکه هرڅه چې پخوا لیکل شوي دي،
هغه زمونږ د لارښوونې دپاره لیکل شوي دي ترڅو مونږ د صبر او هغې تسلی په وسیله چې د خدای
کلام یې مونږ ته راکوي، هیله مند واوسو. ۵ خدای چې د صبر او تسلی سرچینه ده، تاسو ته دې
توان درکړي چې په داسې همغږۍ یو د بل سره ژوند وکړئ لکه څنګه چې د عیسی مسیح د پیروانو
سره مناسب دي، ۶ ترڅو تاسو ټول په ګډه سره په یو اواز د خدای یعنې زمونږ د څښتن عیسی
مسیح د پلار ثنا ووایئ.

## ټولو خلکو ته د زېري رسول

۷ نو لکه څنګه چې مسیح تاسو ومنلئ، نو تاسو هم د خدای د جلال دپاره یو بل ومنئ. ۸
ځکه چې زه تاسو ته وایم چې مسیح د خدای د رښتینولی د ثابتولو دپاره د یهودیانو خدمتګار شو،
ترڅو هغه وعدې پوره کړي چې د هغوی د نیکونو سره یې کړې وې ۹ او د دې دپاره چې
غیریهودیان هم خدای ته د هغه د رحم په سبب ثنا ووایي. لکه څنګه چې د خدای په کلام کې لیکل
شوي دي:

له دې امله زه به د غیریهودیانو منځ کې ستا ثنا ووایم او زه به سندرو سره ستا ثنا او صفت کوم.

۱۰ او په بل ځای کې وایي:

ای نورو قومونو د خدای د قوم سره خوشحالي وکړئ.

۱۱ او بیا په بل ځای کې وایي:



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ای ټولو قومونو، د ښبنتن ثنا او صفت وکړئ او ای ټولو خلکو د هغه لويي بيان کړئ.

۱۲ او بيا اشعيا پيغمبر وايي:

يو ښوک به د يسي د اولادې ښخه راشي او هغه به په غيريهوديانو حکومت وکړي او غيريهوديان به هغه ته هيله من وي.

۱۳ خدای چې د هيلې سرچينه ده، هغه دې تاسو د خپل ايمان په وسيله د پوره خوشحالی او سولې نه ډک کړي چې د روح القدس په قدرت سره ستاسو هيله نوره هم زياته شي.

## د غيريهوديانو دپاره د پولوس رسول دنده

۱۴ ای زما خويندو او ورونو، زه په خپله ستاسو په هکله ډاډمن يم چې تاسو د نېکی نه ډک او
پوره پوهه لرئ او د دې توان لرئ چې يو بل ته لارښوونه وکړئ. ۱۵ خو ما په زړورتيا سره ښينې
شيان تاسو ته ليکلي دي چې تاسو ته يې در په ياد کړم، د هغه فضل له امله چې خدای ماته راکړی
دی ۱۶ چې د غيريهوديانو دپاره د عيسی مسيح خدمتګار شم. هغه ماته د زيري د رسولو په خاطر
د کاهنتوب دنده راکړې ده، ترښو غيريهوديان لکه د يوې نذرانې په توګه چې خدای ته د منلو وړ
وي، وړاندې کړم چې د روح القدس په وسيله پاکه شوې ده. ۱۷ نو ښکه زه په عيسی مسيح کې د
خدای دپاره په خپل خدمت باندې وياړ کوم. ۱۸ ښکه چې زه دا جرات نه کوم چې د کوم شي په
هکله خبرې وکړم پرته له هغه ښه نه چې مسيح زما په وسيله سرته رسولي دي، د دې دپاره چې زه
غيريهوديان په خپلو خبرو او عمل باندې د خدای تابع کړم. ۱۹ د نښو او حيرانوونکو کارونو په
قدرت او د خدای د روح په قدرت سره هغوی قانع شول، ښکه چې ما د اورشليم نه تر ايليريکوم
پورې په ټوله لاره د مسيح زېری په پوره توګه ورساوه. ۲۰ دا زما مقصد ؤ چې زېری هغو ښايونو
ته ورسوم چې تراوسه يې د مسيح نوم نه دی اورېدلی، ترښو زه په هغه بنياد باندې داسې کوم ښه
جوړ نه کړم چې بل چا ايښی دی. ۲۱ بلکې لکه ښنګه چې د خدای په کلام کې ليکل شوي دي:

چاته چې د هغه په هکله ښه نه دي ويل شوي، هغوی به يې ووينې او چا چې د هغه په هکله ښه نه



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دي اورېدلي هغوی به پوه شي.

۲۲ له همدې امله خو خو ځلې تاسو ته زما د راتللو مخنيوی وشو.

## روم ته د پولوس د تګ مقصد

۲۳ خو اوس چې ما خپل کار په دې سيمو کې پای ته رسولی دی او کلونه کلونه کېږي چې زه په
دې ارمان وم چې راشم او تاسو ووينم، ۲۴ نو زه په دې هيله يم چې اسپانيې ته د سفر په وخت
کې تاسو سره د لږ وخت دپاره ووينم او کله مې چې ستاسو سره ليدنه وکړه، نو بيا به ستاسو په
مرسته خپل سفر ته دوام ورکړم. ۲۵ خو اوس د خدای د خلکو سره د مرستې په خاطر اورشليم ته
ځم. ۲۶ ځکه چې د مقدونيې او جنوبي يونان ايماندارانو د زړه له اخلاصه پرېکړه کړې ده چې په
اورشليم کې غريبو ايماندارانو ته يو څه پيسې د مالي مرستې په توګه ورکړي. ۲۷ هغوی خوشحاله
وو چې دا کار وکړي او په حقيقت کې هغوی خپل ځانونه د يهوديانو پوروړي ګڼل. څرنګه چې
يهوديانو خپل روحاني برکتونه د غيريهوديانو سره شريک کړل، نو غيريهوديان بايد د دې په بدل کې
د هغوی سره مالي مرستې وکړي. ۲۸ نو کله چې زه دا کار سرته ورسوم او هغه پيسې چې راټولې
شوې دي هغوی ته وسپارم، نو بيا زه اسپانيې ته ځم او په لاره کې به ستاسو سره ليدنه وکړم. ۲۹
زه پوهېږم چې کله تاسو ته درځم، نو د مسيح د پوره برکتونو سره به درځم.

۳۰ ای خويندو او ورونو! زه ستاسو نه د خپل څښتن عيسی مسيح او هغې مينې په خاطر چې
روح القدس يې تاسو ته درکوي، غوښتنه کوم چې زما سره په هلوځلو کې خدای ته په دعا کولو سره
يوځای شئ. ۳۱ دعا وکړئ چې زه د يهوديې د بې‌ايمانانو څخه وژغورل شم او زما خدمت په
اورشليم کې د خدای خلکو ته د منلو وړ وګرځي. ۳۲ نو که د خدای رضا وي، په خوشحالی به
تاسو ته درشم او ستاسو په ملګرتيا او ليدنې سره به بېرته تکړه شم. ۳۳ خدای چې د سولې او
سلامتی سرچينه ده، هغه دې تاسو ټولو سره وي. امين.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د پولوس رسول ځانګړي سلامونه

۱۶ (۱) زه تاسو ته زموږ خور فيبي چې د کينخريه د کليسا خادمه ده، درپېژنم. (۲) تاسو
هغې ته د عيسی مسيح په نوم لکه څنګه چې د خدای د خلکو سره مناسب دي، هرکلی ووایئ او هر
شي ته چې اړتيا ولري ورسره مرسته وکړئ، ځکه چې هغې د ډېرو سره مرسته کړې ده او زما سره
يې هم کړې ده.

(۳) پريسکيلا او د هغې مېړه اکيلا ته چې د عيسی مسيح په خدمت کې زما ملګري دي، سلام
ووایئ. (۴) هغوی خپل ځانونه زما په خاطر په خطر کې واچول، د هغوی څخه يوازې زه نه بلکې
د غيريهوديانو ټولې کليساګانې شکرګزاري کوي. (۵) د هغې کليسا غړو ته هم سلامونه ووایئ چې
د هغوی په کور کې سره راټولېږي. زما ګران دوست اپنتوس ته چې د اسيا په ولايت کې لومړنی کس
ؤ چې په مسيح باندې يې ايمان راوړ، هم سلامونه ووایئ. (۶) مريم ته چې ستاسو دپاره يې ډېر
زحمت ويستلی دی، سلام ووایئ. (۷) اندرونيکاس او يونيا ته چې زما وطنداران دي او زما سره په
زندان کې وو، سلامونه ووایئ. هغوی په رسولانو کې مشهور خلک دي او زما نه مخکې يې په مسيح
باندې ايمان راوړی ؤ. (۸) همدارنګه امپلياتوس ته چې په څښتن عيسی مسيح کې زما ګران
ملګری دی، سلام ووایئ. (۹) اوربانوس ته چې د مسيح په خدمت کې زموږ ملګری دی او
استاخيس ته چې په ما باندې ګران دی، سلامونه ووایئ. (۱۰) اپليس ته چې وفاداري يې مسيح ته
ثابته شوې ده او د ارستبولوس کورنۍ ته زما سلامونه ووایئ. (۱۱) زما وطندار هيروديون او
نرکيسوس د کورنۍ ايماندارانو ته سلامونه ووایئ. (۱۲) تريفينا او تريفوسا ته چې د څښتن خدمت
کوي او ګرانې پرسيس ته چې د څښتن دپاره يې ډېر زحمت ويستلی دی، سلامونه ووایئ. (۱۳)
روفس ته چې د څښتن له خوا غوره شوی دی او د هغه مور ته چې ماته هم لکه د مور په شان ده،
سلامونه ووایئ. (۱۴) اسونکريتوس، فليګون، هرميس، پتروباس، هرماس او نورو خويندو او ورونو
ته چې د هغوی سره دي، سلامونه ووایئ. (۱۵) فيلولوګاس، جوليه، نيرياس او د هغه خور او
اوليمپياس او ټولو ايماندارانو ته چې د هغوی سره دي، سلامونه ووایئ. (۱۶) يو بل ته سلام ووایئ
او په پاکه مينه يو بل ښکل کړئ. د مسيح ټولې کليساګانې تاسو ته سلام وايي.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۷ ای خویندو او ورونو! زه ستاسو نه غوښتنه کوم چې هغو خلکو ته مو پام وي چې بېاتفاقي
رامنځته کوي او نور بېلارې کوي او د هغه تعلیم په خلاف دي چې تاسو حاصل کړی دی. د هغوی
څخه ځان لېرې وساتئ. ۱۸ ځکه چې داسې خلک زمونږ د څښتن مسیح خدمت نه کوي، بلکې د
خپلې خېټې دپاره کار کوي او په خوږو خبرو او غوړه مالۍ سره ساده خلک غولوي. ۱۹ ځکه
چې د څښتن څخه ستاسو اطاعت کول ټولو خلکو ته معلوم دي او له همدې امله زه ستاسو په خاطر
خوشحاله یم. خو زه غواړم چې تاسو په ښه کار کې هوښیار اوسئ او په بد کار کې بېګناه اوسئ.
۲۰ خدای چې د سلامتۍ سرچینه ده، هغه به زر شیطان ستاسو د پښو لاندې توټې توټې کړي. په
تاسو باندې دې زمونږ د څښتن عیسی مسیح فضل وي.

۲۱ زما همکار تیموتاوس او همدارنګه زما وطنداران لوسیوس او یاسون او سوسیپاتوس هم تاسو
ته سلامونه وایي. ۲۲ زه ترتیوس د پولوس منشي د دې لیک لیکونکی هم تاسو ته د څښتن په نوم
سلامونه وایم. ۲۳ ګایوس چې زما او د هغه په کور کې د ټولې کلیسا کوربه دی، تاسو ته سلامونه
وایي او د ښار خزانه دار اراستوس او زمونږ ورور کوارتس هم تاسو ته سلامونه وایي. ۲۴ [زمونږ
د څښتن عیسی مسیح فضل دې په تاسو ټولو باندې وي. امین.]

## د پولوس اخرنۍ دعا

۲۵ اوس دې خدای ته جلال وي چې کولای شي تاسو په ایمان کې د عیسی مسیح د زیرې له
مخې چې زه یې اعلانوم او د هغه راز د څرګندولو له مخې چې د پېړیو پېړیو راهیسې پټ پاتې ؤ،
قوي کړي. ۲۶ اوس دا حقیقت د پیغمبرانو د لیکنو په وسیله څرګند شوی دی او د ابدي خدای د
حکم له مخې د دنیا ټولو قومونو ته ښکاره شوی دی، ترڅو هغوی ایمان راوړي او د هغه اطاعت
وکړي.

۲۷ هغه واحد او یوازېنې خدای ته دې چې په هرڅه پوهیږي د عیسی مسیح په وسیله تل ترتله
جلال وي. امین.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تاسو پوښتنې لرئ؟ 9066.700.807 1+
afghanbibles.org © افغانستان ۲۰۲۳
Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.